2 - MAY 27
Copy ____ 1959

کابل

پر له پسی ګڼه (۴٦٦)

باغلی زمریالی

سخ دچا؟

نه به پاته زور او زر په دې دنیا وی
نه به تود بازار همېش د چل ریا وی
نه جمشید نه سکندر نه جام جم شته
نه به پاته د چا برم شی که دارا وی
دېرلیلی اومجنون لاندې شول ترخاورو
نه به زما مینه ، نه ستا حسن رعنا وی
د هغه او رنګ په زیب به لاړې توشی
چه په خون دشاهجان ئې لاس حنا وی
بحربه وچ بربه اوبه شی کانی خاوری
تش قصه به د عمر او آتیلا وی
سخ دچا چه په ژړا د یتیم ژاړی
د مظلوم و خوشحالی ته به خندا وی
زمریالیه! د بیوزلو تورې شپې ته
لوی سحرشه چه تیاره په تارنا وی

د ۱۳۳۷ کال د تلې (۱۵) د ۱۳۷۸ ق، کال ربیع الاول (۲۳) د د ۱۹۵۸، ع، کال د اکتوبر ۷

۲۸ کال

۱٤ گڼه

14

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی، ادبی، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: محمد حسن «کاکړ»

پته: کابل - نادر پښتون واټ د پل خشتی په مقابل

د تیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

په دې ګڼه کښې

مضمون	لیکونکی یا مترجم	مخ
د پښتو ټولنې	اداره	۱
د لیکوالو او	ښاغلی نظری	٤
د پښتو د لسانی تاریخ په باره کښې	« ډاکتر پنزل	۸
علمی څنګه وی ؟!	« ع ، ص	۱۳
اخری پاڼه	« سعدالدین	۱٦
زما د خیال جهان	« دوست	۲۰
د پښتو د لیك دود مسئلی په لړ کښې	« تیزی	۲۳
وروسته د ښاغلی خیبری کتاب	« دریمه شپه »	

دپښتو ټولنی د ۱۳۳۷ نشراتی کال چاری:

مونږ یقین لرو چه دپښتو ژبی مینان تر ډیره حده متوجه دی چه د پښتو په لار کښی دپښتو ټولنې زیار او زحمت ځانته معلوم کړی او په دې پوه شی چه دپښتو دپاره څومره کار شویدی یا دغه ملی او قومی وظیفه له پخوانه څومره وړاندې بیول شوې او دنن او پرون تر منځ ئی څومره فرق دی . له بلې خوا دغه ټولنه ځان مجبور گڼی چه دخپل کار او خدمت معیار خلکو ته وښیی چه دغی موسسی په دغه کال کښی څومره کار کړیدی .

تیر کال هم دنشراتی کال په پای کښی مونږ ددغی ټولی دنشراتی او مسلکی چارو یو کلن راپور د کابل مجلې په واسطه دخپلو دوستانو په مخ کښې ایښی ؤ، چه په هغه کښی مونږ له یوه خوا خپلی اجرا شوې چارې او له بله پلوه تر اجراء لاندی چارې ښودلی وې، دا دی اوس پدې رپوټ کښی د دغې ټولنې د تیر کال تر اجراء لاندی چارو د بشپړ کیدو او دنوی نشراتی کال (چه دیوی سنبلې نه تر بلی سنبلې پوری نشراتی کال حسابیږی) تر اجراء لاندی چاری د خپلو علاقه مندانو دمعلوماتو دپاره خپروو .

الف: په ۱۳۳۷ نشراتی کال کښی دپښتو ټولنې چاپ شوی آثار :

۱- پښتنی دو دونه په برابره قطع په (۲۰۱) صفحو کښی چه زمونږ دو دونه راښیی، ښاغلی ننگرهاری، واسعی، ثابت او اتمان د بیلو، بیلو پښتنی سیمو د مطالعی له مخی لیکلی دی

۲- غوره نثرونه په (۱۱۸) مخو کښی چه د ښاغلی الفت دغوره او منتجنو نثرونو مجموعه ده .

۳- هغه وویل د « جبران خلیل » ادبی اثر په (۱۰۱) مخو کښی ښاغلی مولینا سیفی له اردونه ترجمه کړیدی .

٤- افغان قاموس دریم ټوک په لویه قطع په (٦١٩) مخو کښی د ښاغلی عبد الله افغان نویس اثر چه په پښتو کښی یو دورند او مهم اثر گڼل کیږی او تقریباً د پښتو او فارسی دواړو ژبو فرهنگ ورته ویل کیدای شی.

٥- لودی پښتانه د ښاغلی عبدالشکور « رشاد » اثر چه لویه قطع او (٤٢٥) صفحی لری دلودی پښتنو د کورنۍ په پاچهۍ یوژور او تحقیقی مبحث دی چه د پښتنو د تاریخ له نظره یو مغتنم ، اثر باله کیږی .

٦- منتخب شعرونه په (٤٩) مخو کښی د سید شمس الدین مجروح د ځینو اشعارو مجموعه چه په شعری او ادبی لحاظ ښه لوړ قیمت لری.

٧- کلمه دا ده روپۍ د ښاغلی پژواک یوه ډیره پخوانۍ ډرامه ده چه په (٦٤) مخو کښی د یوې پښتنی پیغلی دوطنولۍ احساسات ښکاره کوی.

٨- پښتو کتابونه، د ښاغلی راز محمد ویش اثر په (٢٦٠) صفحو کښی د اسی کتاب دی

چه په افغانستان کښې او دافغانستان نه د باندې ملکو دپښتو مطبوع اثار ورمعرفی کوی اودلندن دبرتش موزیم قلمی نسخی هم په کښې ښودل شوی دی اودپښتو ټولنې مفصله تاریخچه هم ورسره شته.

۹- دانستان بدن په برابره قطع علمی کتاب دی چه ښاغلی هو لینا سیفی په (۵۰) صفحو کښې ترجمه کړیدی اودانسان دفزیکی ساختمان اوژوندپه باب علمی معلومات لری.

۱۰-و ده وال (لحانوران) دا هم یو علمی کتاب دی چه په (۵۰) مخو کښې محمدعالم آتمان ترجمه کړی دی او دحیوانانو په باب علمی څېړنه شوې ده.

۱۱- آواز هم یو دغه رار علمی اثردی چه ښاغلی حبیب الله تږی په (۵۰) مخو کښې ترجمه کړی دی چه درصوت په باب علمی تحقیق لری.

۱۲ - دبنگ دمسافری په نوم یو بل کتاب دی چه په (۱۹۸) مخو کښې د وطن ژوندانه په عادی ارخ یوعبوری نظر لری او نورمحمد «تره کی» لیکلی دی دسبز کال دغه نشراتی آثار ټول (۱۲) جلده دی چه دټولو صفحی (۲۰۱۱) کیږی.

ب: هغه آثار چه د ۱۳۳۷ نشراتی کال په دوران کښې ترطبعی لاندی نیول شوی دی

۱ - پښتانه شعرادرې یم ټوک په دولتی مطبعه کښې ترچاپ لاندی دی چه تر (۱۵۰) صفحو پورې طبع شویدی.

۲- پخوانی حیوانات دراز محمد وینې په ذریعه ترجمه شویدی دمعارف په مطبعه کښې تر (۴۰) مخو پورې سره له تصویر ونوطبع شویدی.

۳ - نوز (رنا) هم یوه علمی ترجمه ده چه دښاغلی واسعی له خوا ترجمه شوی او دکابل په دولتی مطبعه کښې ترطبع لاندی دی.

۴- هغه حیوانات چه مونږ ئې پیژنو د ښاغلی ثابت ترجمه ده چه دمعارف په مطبعه کښې ترطبع لاندی دی او ځینی تصاویر ئی هم په مطبعه کښې زنکوگرافی شویدی.

۵ - هغه آثار چه مسودی ئی په تیر کال کښې ددغی ټولنی له خوا ترتیب شوی او دچاپ دپاره تیاری دی:

۱- داحمدشاه بابا شاهنامه چه حافظ مرغذی ویلې ده. ښاغلی بینوائې له برتش موزیم څخه عسکونه اخیستی او پښتو ټولنی ته ئې دچاپولو دپاره ورکړیعنی چه په (۵۰۰) مخو کښې پاک نویس شویدی

۲- دهلی دپښتنو په عصر کښې دا کتاب په اردو کښې دښاغلی خان غازی کابلی قلمی اثر دی چه ښاغلی سیفی په (۹۰) صفحو کښې پښتو ترجمه کړی دی.

۳- دکیف تکامل الشخصیه اثرچه ښاغلی واسعی له عربی نه په پښتو ترجمه کړی او تمام شوی لاندی دی.

۴- دجاذبی قوه چه د راز محمد وینې په ذریعه په (۵۰) صفحو کښې ترجمه شویدی چه دجاذبی په باب پوره معلومات لری.

٥- دسیرة النبی دریم ټوك
په (۱۰۰۳) صفحو کښې چاپ
ته تیاردی او د څلورم جزنه
تر ۶۷۸ مخه پوری ترجمه شویده.

د - دپښتو ټولنی ادبی او
علمی تماس له خارجی نړۍ سره:
په دغه کال کښې دپښتو
ټولنې دښور وابطو په وجه
یو تعداد روسی او امریکائی
پوهان او متتبعین چه په
پښتو ژبه کښې دښو معلوماتو
خاوندان وو وخت په وخت
یو په بل پسی افغانستان ته
راغلل او دلته ئی دپښتو ټولنی
سره دعلمی نژدی تعلقاتو په
وجه دپښتو په باب خپل معلومات
زیات کړل او دهغه ځای علمی
موسسی ئی پښتو ټولنی ته
معرفی کړی چه له هغه جملی
پوه ښاغلی لبیدیف گرس،
ښاغلی دریانکوف همدانگه
هربرت پنزل امریکائی پوهاند
چه په پښتو ژبه کښې دمعلوماتو
خاوندان دی ښاغلی هربرت
پنزل دسکالو یشپ ډول
دڅه مودی دپاره افغانستان ته
راغلی او په کابل کښې ئی
دخپل توقف په دوران کښې
په هفته کښې دوه واره دپښتو
ژبی په باب دخپلو معلوماتو
دزیاتوالی دپاره له پښتو ټولنی
سره تماس کړیدی او بل داسد
په اخر کښې دپښتو ټولنی له
خوا دلری پښتنو نخوا یو شمیر
پښتانه ادباء او فضلا کابل ته
راوبلل شوه چه دلته ئی دمرکز
دپښتو داملا په باب ځینې فیصلی
وکړې او ځینی اختلافات ئی
رفع کړه په پای کښې دلرو
اوبرو پښتنو ادباء په اشتراك
دسنبلی په لسم ماښام دپښتونستان
دورځی په یاد په کابل راد یو کښې
یوه درنه مشاعره هم خپره شوه.

ه - دپښتو ټولنی د اصلی
اعضاء دپاره دپوهنتون په شان
دشپږو علمی درجو امتیاز اخستل!
دپښتو ټولنی دپیشنهاد او
معارف دښاغلی وزیر په توجه
دتیر کال دجدی په میاشت کښې
دپښتو ټولنی داصلی اعضا وو
دپاره دوزیرانو دعالی مجلس
په مننه او داعلیحضرت معظم
همایونی په منظوری دپښتو
ټولنی دمسلکی غړو له پاره دغه
لاندی شپږ علمی درجی ومنلی شوې:

۱ څیړونکی
۲ څیړنیار
۳ — څیړنمل
٤ — څیړنوال
٥ — څیړندوی
٦ — څیړنپال

چه دحقوقو څخه ئی دپښتو
ټولنی مسلکی اعضاء استفاده کوی.

و- نوی غړی.

پښتو ټولنی دتیر کال په
دوران کښې دد غې درنې
وظیفی دسر ته رسولو له پاره
دمسلکی او علمی ملگرو
په لټه پسی ډیر دې خوا او هاغه
خوا په علمی مرکزو او تربیوې
دستگاهو کښې سترگې وغړولې
او دوه دری تنه قوی
ملگری ئی پیدا کړل لکه:
ښاغلی مولینا خادم دڅیړنوال
غړی په حیث چه ادبی او قلمی
سابقه ئی په محیط کښې منل شوی
ښاغلی محمد حسن کاکړ
دادبیاتو دپوهنځی لیسانسه او
عبدالوکیل صداقت دعربی
دارالمعلوم فارغ التحصیل
ښاغلی سعدالدین چه دادبیاتو
دپوهنځی نه راوتلی په بیلو،
بلیو مسلکی څانگو کښې
دغړو بحیث ورنه کار اخستل کیږی.

لیکوتکی : چنگ تاین یی

مترجم : رحمت الله نظری

دلیکوالو او لوستونکو اختلافات

غواړم چه دا مسأله بیان کړم چه ولی او څرنګه د یوې موضوع په باب لوستونکو ته په مینځ کښې فکری اختلافات پیدا کیږی . زما په خیال چه دا یوه ډیره نوی موضوع ده چه وضاحت ته ضرورت لری .

دا یوه څرګنده خبره ده چه کله چه یو اثر خپرشی نو د مختلفو لوستونکو په مینځ کښې جلا جلا انعکاس پیدا کوی . زما څانګړی تجربه دا ثابتوی چه د یوی در امی عین لوبغاړی یا یوه عینی لینکه د لیدونکو او لوستونکو په نظر کښې بیل مقام پیدا کوی ، مثلاً یوه ادبی پارچه د عوامو په نظر کښې په مختلف ډول عکس العمل لری . ځینی یې زیات ستایی ، ځینی په عادی سترګه ورته ګوری او ځینی د نفرت او انزجار احساسات تری ښکاره کوی همدا ډول یو هنرمند یا لوبغاړی کله چه په عملی صحنه کښې ښکاره شی ، د هغه په لیدونکو کښې ډول ، ډول احساسات تولید یږی ، یو ئی موفق ، بل ئی مناسب او هغه دریم ئی نامعقول بولی . دا مختلف اظهارات چه حقیقی علل ئی هرڅه چه وی ، مؤلف یا لیکونکی په ډیر تعجب او لویه اشتباه کښې اچوی .

زما په خیال ددی لمړی سبب دادی چه دهری اجتماع لوستونکی ، اوریدونکی ، او لیدونکی عموماً په هره موضوع کښې بیل بیل فکرونه لری .

دا ځکه چه هره ټولنه د مختلفو وګړو څخه جوړه شویده چه هر یو یې ځانته جلا فطری استعداد او فکری سویه لری . سر بیره پر دغه د یوه اثر د پاره وخت او زمانه هم زیات قدر لری ښائی چه یو ډیر ښه اثر تر یوه عهدوروسته خپل اهمیت بایلی .

نو د دی سببه د لوستونکو او یا کتونکو نظریات او د تلقی طرز بار ز اختلاف پیدا کوی .

یوه بله مهمه نقطه دا ده چه ښائی ټول لوستونکی زما دا وینا ومنی هغه وخت چه یو لیکونکی د خپل روحی فکر د انکشاف په دروزه کښې ولاړوی د طبیعت د قواؤ او خپل اجتماعی محیط څخه د خپل فکر او استعداد په اندازه الهام اخلی نو پدغه وخت کښې هغه د لوستونکو د رنګارنګ نظریاتو څخه (کوم چه د ده د اثر تر نشر کیدلو وروسته مینځ ته راځی) تصور نه شی کولای

اوس به وګورو چه لیکونکی د دی دپاره څه دلائل لری ؟

کله یو لیکونکی داسی ادعا کوی چه پدی اثر کښی زما مقصد او مرام هغه شی ندی کوم چه لوستونکی په خپل فکرورځنی را ایستلی دی بلکه د هغه په عکس او تضاد دی. مګر دغه دیوه لیکونکی دلیل کیدای نشی ځکه لوستونکی داسی ادعا کوی چه ولی تا د خپل زړه مقصد په هغه مناسبو جملواوعباراتو کښی پوره ندی اظهار کړی نو ځکه ستا اثر ناقص دی .

او یوویونکی هیڅ وخت پدی پروا نلری چه د لیکونکی د زړه مقصد څه و ، بلکه څه چه هغه لیکلی وی مدار د اعتبار بهی ګڼی .

داصحیح ده چه لوستونکی زیاتره د یوه مضمون نتیجه دخپل شخصی فکر اواستعداد په اندازه د حیاتی مسئلو او واقعودتجربی څخه استخراج کوی مګر مقابلتا داهم باید ومنل شی چه په عمومی ډول دلیکونکوتاردطبیعت حادثات او واقعات په خپل حقیقی او ساده شکل نه شی بیان کولای بلکه د هغه قلم کمبودی او زیاتی پکښی اچوی .

که څه هم لیکونکی خپل انتهائی کوښښ کوی چه خپل روحی احساس او فکری قواوی د یوی موضوع په ترتیب کښی د خپل شخصی میل په اندازه انسجام کړی ،ترڅو چه لوستونکی تر خپل تأثیر او طرز تفکر لاندی کړی مګر داسی کوششونه په استثنائی ډول بریالی کیږی.

البته دا هم امکان لری چه اکثراً دلوستونکی علمی سویه او ذخیره کمه وی او محدود فکری استعداد او یا ناقص قضاوت به لری چه دلیکونکی په فکر اونظریه کښی تعمق نشی کولای اویا به داسی خراب فهم لری چه دلیکونکی په مرام پوهیدلو کښی کرټ نا کام پاته شی.

مګر عموما لوستونکی دلیکونکی په غرض په اسانی پوهیدلای شی او هغه اساسی مرام لاس ته راوړی کوم چه لیکونکی پخپل مخصوص سبک تشریح کړی وی . ددی دپاره نو لازمه ده چه لمړی لیکونکی داسی زحمت وباسی چه دلیکنی پهوخت کښی داسی تصادف پیښ نشی چه دلوستونکی څخه ځینی نقاط تاریک پاته شی او که داسی تصادم واقع شی نو د خپلی تجربی له مخی دخپل مرام دور کیدلواوعدم انسجام مخه ونیسی. کله کله داسی پیښیږی چه دلیکونکی څخه هم ځینی نقطی چه د هغه سببه دویونکو اختلاف پیدا کیږی پټی پاته شوی وی پدی صورت کښی دا خرګنده ده چه لوستونکی په نسلو کښی نسل متردد او مختل پاته کیږی .

نو له دی سببه غواړم چه اوس پخپله فکری اندازه هغه تکی روښانه کړم چه د اختلاف نظرلری کیږی نه پوهیږم چه زه به د هغوی

روښانه کېدل وکړای شم
که یه ؟

لمړی دا چه لیکونکی
د مضمون په اختصار کښې
ترممکن حدپوری بایدبریالی
وی او داچه په موضوع کښې
ټول مهم ارخونه دخپل شخصی
میل اوسبك په پیروی روښانه
وساتی .

پدی ځای کښې د لیکونکی
قضاوت او فعالیت نسبت
دلوستونکو مختلفو نظریاتو ته
زیات اهمیت لری ، ځکه
گاهی د ژمانی په تقاضا
د لیکوالو دپاره دا سخته
وی چه ښه ، بد ، او همداسی
نور په حقیقی شکل ښکاره
کړی .

لکه چه په یوې ټولنه
کښې مختلف وگړی وجود
لری دغه ډول په نړۍ کښې
هم مختلفی ټولنی وجود لری
چه د هری طبقی اجتماعی
خاصیتونه ، او افکار جلادی
او دا ټولی طبقی یو واحد
طرز تفکر ، عکس العمل او
ارتباط نلری .

دغه مهم ټکی دی چه
لیکوال د سختو مشکلاتو
سره برابروی او ددی دپاره
چه لیکونکی یو بین المللی
مقام او پرستیژ پیدا کړی
آسانه او ساده کار ندی .

سر بیره پر دغوشرطونو
بیا هم لیکوالو ته لازمه ده
چه تر یو تاکلی حد پوری
په لیکنه کښې بریالی دی .
لیکنه یو ډیر مشکل کاردی
مثلاً کله چه دحقیقی اواصلی
ژوند څخه بیان کیږی نو
لیکونکی مجبوردی هرڅه چه
ووینی هغه ولیکی. پدی ترتیب
بیاهم یولیکوال نشی بریالی
کیدای ځکه هرڅومره چه
دیوې موضوع پهشاوخوا کښې
واقعیت بیان کړی بیاهم ویوه
پلوته چه دلچسپی او علاقه لری
دخپل میل او شخصی فکر په
اساس زیاته رنا اچوی او بل
پلوته کمه رنا پر یږدی. او یا
ښائی چه کله دیوه غرض دپاره
دیوی خوا پهطرفداری لیکنی
وکړی .

ډیرلحله داسی هم پیښیږی

چه لیکوال دعدم معلوماتو او
مطالعی په اساس ځینی نقطی
نهشی روښانه کولای او پدی
ترتیب ترلوستونکی د مخه
مرددوی . دا ډول دلائل ډیر
دی خوپه لنډ ډول اظهار کوم
چه دهرې موضوع اهمیت او
وثاقت دلیکونکی په علمی
درجه ، فکری استعداد او
اوطبیعی تمایل پوری تړلی
اړه لری .

بله لویه خبره داده چه
دلیکونکی آثار دهغه دمطالعی
اومسلکی ساحی څخه بهر نهوی
اوکوم آثار چه لیکی په هغه
کښې ژوری کتنی اولوستنی
ولری .

مثلا یوه ادبی ټوته یایوه
لنډه خوزه قصه داجتماع دټولو
واقعاتو ښکارندوی نهوی .

اوددی دپاره چه لیکونکی
اجتماعی ژوند اظهار کړی
توباید دژوندانه ټوله پردې
پهغه اجتماع کښې ورښکاره
وی. داسی بایدونهشی چه لږئی
لیدلی وی اوزیات بیان کړی
بلکه ترڅوچه پرموضوع پوره

حاکمیت ونلری بیان ئی لازم ندی. که لیکوال پر موضوع باندی عمومی حاکمیت ولری او توله تاریکی نقطی ئی ادراك کړی وی پدی صورت کښې دلوستونکو داختلاف مناقشی اوابهام مانع کیدای شی. هغه وخت چه لیکنه ددی اساس په خلاف واقع شی اودموضوع اکثره تکی تاریك پاته وی لیکوال ناکام شمیرل کیږی ځکه که ئی یوه خواهر ځومره ښکلی مجسمه کړی وی دهغه زحمتونه د تولنی عمومی افکارو ته مثبت انکشاف نشی ورکولای.

دغه عین سوال دیوه انسان دشخصیت په ښوولو یا پیژندنه کښې هم میانځ ته راځی.

لیکونکی مجبوره دی چه یو فرد په پیژندګلوی کښې دهغه دژوندانه هره خوا ښه مجسمه اومصوره کړی او حتی هغه نقاط چه دده په فکر جزئی وی هم تاریك پری نږدی ځکه ښائی چه یولوستونکی په هغه کښې علاقه ونری ولی کوم شیان چه ده ته سطحی اوظاهری ښکاریږی دبل چا دپاره به هغه اساسی اوحقیقی وی.

یوه پیژندنه هلته موثوقه اومعتبره ګڼل کیږی او زیات معتقدین پیدا کوی چه دیوی خواپه عوض دهرې خوا قضاوت یکښې شوی وی.

که دیوه افراطی په ډول موضوع ښه حل شی اودهغه توله ریښې وپلټل شی نوحقیقتا داسی زحمت نتیجه ښندی اودعمومی اشخاصو پو ښتنی پخپله تری حل کیدای شی.

بل داهمیت و ر تکی دادی چه دهری اجتماع داخلی نواقص او نیمګړتیاوی دلیکوالو دطرفه پیداسی ډول اظهارشی چه دعمومی افرادوحسیات او انعکاسات ورسره معادل وی.

مثلا کله چه مونږ دمخه تر آزادی د(چین) دخرافاتو څخه شکایت او اعتراض کاوه نو زموږ لیکنی به پیداسی هنری ډول ترتیب شوی وی چه عوام به اتوماتیکی پو هیدله چه دهغوی عوامل تصادفی او آنی ندی بلکه د اسارتی اداری د خراب سیستم څخه ئی نشئت کړیدی.

اوددی دپاره چه هغه اصلاح شی نو باید داخراب داسارت اوغلامی سیستم ر نګ کړی شی.

تر آزادی حاصلولو وروسته بیاهم مونږ ځنی نواقص په لیکنو کښې درلوده چه د هغه سبب مختصری او ضعیفی لیکنی وی. که څه هم دغه عوامل (مختصر اوسطحی لیکل) ډیر سخت او اساسی نیمګړتیاوی دی نو څرنګه چه زمونږ اداری سیستم دآزادی په سبب ښه شوی دی امیدشته عوام به خپل مشکلات په آسانی رفع کړی.

اوس زمونږ دخلقو دترقی دپاره ښې لارې دادی چه دخپلو خرابواو نیمګړوو اقعا نو څخه وبیریږو اود تکرار مخه ئی ونیسو. اودپردیو پلان او فورمول دملی او اجتماعی انکشاف دترقی مانع وګڼو.

ددې څخه باید ستر ګی پټی نکړو چه خپل پلان او فورمول

(پاتی په ۱۱ مخ کښې)

زمونږ گمان دی چه دمجلې لوستوونکی به ډاکتر هربرت پنزل پېژنی، نو ځکه دده دمعرفی کولو ضرورت نه وینو، یوازې دومره لیکو چه ډاکتر پنزل دپښتو ژبې یوامریکائی ژب پوه دی چه اوس دسکالر شپ په ډول د پښتو ژبې د زیاتې څېړنی په غرض کابل ته راغلی دی. داکتر پنزل دادبیاتو دپوهنځی د پښتو په څانګې کښې دفلالوجی درس ورکوی. همدا راز په پښتو ټولنې کښې دپښتو په باب هروخت له مسلکی غړوسره مرکې لری.

دې ښاغلی څوموده ړومبی دپښتو دقدامت په باب یو په زړه پوری کنفرانس هم ورکړ. دادی لاندی به اوس دده مقاله ولولیء. دامقاله ده خپله انشاء کړی اولکه څنګه چه دی پخپله وایې ښاغلی الهام په لیکلو کښې ورسره مرسته کړی ده.

(اداره)

ډاکتر هربرت پنزل

دپښتو دلسانی تاریخ په باره کښی

خلك له ژب پوهانو نه داسې پوښتنې کوی چه آیا پښتو قدیمی ژبه ده؟ پښتو تر فارسی قدیمی ده او که نه؟ اولس هم غواړی چه ددې پوښتنو ځواب واوری چه پښتو ژبه لسانی خپلوان لری که یه؟ او پښتو کوم تاریخ لری اوداسې نور... زه به په دی مضمون کښی کوښښ وکړم چه دغو پوښتنو ته چه دپښتو د تاریخ په باره کښې کیږي په ښه شان ځواب ورکړم البته که ددې مسألې په مفصل ډول تشریحات وغواړو ضرور به وې چه یو لوی کتاب په دې باب کښې ولیکل شي.

په ابتدا کښې باید وویل شي چه د «پښتو داخلی تاریخ» لکه دنورو ژبو تاریخ نشو لیکلی. مثلاً په انګلیسی کښې مونږ له اتمې عیسوی پیړۍ نه ترموجوده وخته پوری داسې متون لرو چه دغو نه دژبې خصوصیتو نه ډېر ښه څرګندیږی دجرمنی ژبی دپاره هم له نهم عیسوی عصره څخه قسم قسم متون لرو او پکښې دصوتو، صورتو او د صورتو دترتیب او داستعمال دتغییر اوبدلون په هره پیړۍ کښې څیړنه او کتنه کولای شو. دژبې داختلافاتو دښودلو دپاره مونږ ژبې ته مختلف او بېل نومونه ورکو ومثلاً «زړه انګریزی» چه تر یوولسمی پیړۍ پورې ویله او لیکله کېده استعمالوو. بعد لدېنه «منځنۍ انګریزی» هغه انګریزی بولو چه تر پنځلسمې پیړۍ پوری استعمالیده، اود جرمنی

دپاره : زره ، منځنۍ او
موجوده جرمنی استعمالوو
دپښتو دپاره هیڅ دا راز
متون نلرو چه پکښې دپښتو
دژبې مختلف حالات ساتل شوی
وي ټول قدیمی متون حتی
« پټه خزانه » هم موجوده
شکل لری البته په داسې
متونو کښې چه دوه دری
قرنه پخوا لیکل شوی وو
داسې لفظونه موموچه موجوده
معناوې نلری اوهم په قدیمی
قلمی نسخو کښې یعنی په هغو
نسخو کښې چه دوه یادری
قرنه پخوا لیکل شوی وی
دحروفو دشکلو دپاره لږفرق
شته . لاکن اصلاً د ژبې
مختلفی طبقې او دوری په
هیڅ متن کښې نلرو .

« منځنۍ پښتو » باید
دکلمو داسې صورتونه ولری
لکه : * مودر دمور ،
* ورودر دورور ، * پدردپلار
* دس دلس پرعوض (ژ بیوهان
ددې علامې په واسطه ښئی چه
داصورتونه حقیقی اورښتیانی
ندی بلکه یوازی تخمین او
جوړشوی دی) احتمال
نلری چه په یوځای کښې یو
داسې متن پیداشی چه د پښتو
داراز لرغونی صورتونه ولری
ځکه داسې ښکاریږی چه
پښتو له ډیرو وختو څخه
موجوده شکل لری آیاویلای
شو چه پښتو به یوه نوې او
ځوانه ژبه وی؟ نه ، دا نظریه
بیخی غلطه ده ځکه چه په یوې
ژبې کښې داد بی عنعنې عمر
دخیلې ژبې عمر هم نه وی .
په دنیا کښې ډیرې ژبې شته
لکه دامریکی ډیرې
هندی ژبې اودجنوبی امریکی
داوسیدونکو ژبې چه
هیڅکله په هیڅ قسم رسم
الخطنه دې لیکلی شوی او
داسې ژبې لدې کبله چه
یوازی په موجوده صورت په
محاوره کښې پیدا کیږی
باید ځوانی او نوی ونه بللې
شی . درسم الخط اودادب
دعنعنی عمر دیوې ژبې دعمر
سره هیڅ ارتباط نلری .

که په پښتو کښې داسې
متون نشته چه دژبې قدیمی
صورتونه وساتی ، ژب پوهان
په کوم شان داکولای شی
چه دپښتو لسانی تاریخ معلوم
کړی . حقیتاً امکان لری چه
پدې دوولاندی دولونو دیوې
ژبې د « رسم الخط ځخه پخوا
تاریخ » معلوم شی لومړی
« داخلی دول » چه دژبې
په خپلوداخلی صورتو سره
کیږی ، دوهم : مقایسی دول
چه دنورو ژبو دمقایسی سره
کیږی . هغه رسم الخط چه
دیوی ژبی دپاره مخصوص وی
کله کله هم دهغې ژبې
دماقبل التاریخ دځر گندولو
دپاره مرسته کوی . مثلاً
مونږته دپښتو درسم الخط ځخه
معلومیږی چه دغه رسم الخط
په کندهار کښې جوړشوی و.
(ژ) او (ښ) حروف
د(ز ، ژ) او (س ، ش) سره
نژدې ارتباط لری دافغانستان
په گردو لهجو کښې یوازی
دقندهار په لهجه کښې په تلفظ
کښې هم دانژدی ارتباط
لیدل کیږی . تقریباً (ز)
لکه (ژ) او (ښ) لکه

(ش) اداکېږی که څه هم ژبه په سرچپه شکل د تالو ومختلفو ځایوته حرکت کوی په کندهار کښې درسم الخط او تلفظ په ما بین کښې هم آهنگی شته.

«داخلی جوړول» هم د داسی ژبو دپاره په کار دی چه له نوروژبو سره ښکاره اړیکی نلری.

د پښتو په یو څو صورتو کښی دامعلومیږی چه څنگه یوازی پخوانی صورتونه دمختلفو موجوده صورتو فرقونه تشریح کولای شی. مثلا د (اس یا آس) مؤنثه (اسپه) ده له دې فرق نه ښکار ېږی چه دمذکر (اس) پخوانی صورت (*اسپ) و. د پښتو د نورو صورتو دارتباطو ښودنه د داخلی جوړولو په ډول مشکل ښکارېږی ځکه چه ددغو کلمو دصورتو فرق ډېردی مثلاد (پلار) او (تره) د کلمو صورتونه. (تره) د (ل) پرعوض (ت) لری او د سر اصلی (پ) ېې ورك شوی دی. دغه (ت) د (پلار) په لفظ کښې هم پخوانی اصلی آواز ؤ. د (شل) او (ویشت) ارتباط هم ښه ندی څرگند. لاکن په ځینو لهجو کښی ددې کلمی په سر کښی (و) پیدا کیږی او د (شل) پر عوض (وشل) استعمالیږی او د (شل) د کلمی آخرینی (ل) او د (ویشت) د کلمې (ت) بیاښیی چه (ت) پخوا په (ل) تبدیل شوې دی څنگه وپوهیږو چه کوم آواز (ت) یا (ل) اصلی و؟ په «داخلی جوړولو» کښی هم مقایسه کول په کار دی مقایسه (ت) د قدیمی آواز په حیث ثابتوی.

له داسې مقایسو سره پخوانی آوازونه او صورتونه او د صورتو ترتیب لاس ته راوستلای شو.

دمقایسی فلولوژی له خوا په نونسم عصر کښی د هند و ارپایی ژبو ارتباط تثبیت شوی وو. مقایسه اصلاً په دا ډول کیږی چه د مختلفو خپلوانو ژبو لغات چه تقریباً یوه معنی لری څنگ پر څنگ کښیښوول شی او داصواتو او صورتو ارتباطو نه له داسی مقابلی نه معلومو و. مثلاً د پښتو داسی لغات لکه (پلار) او (لس) د پښتو د نورو خپلوانو ژبو له لاندینو لفظو سره په دی ډول مقایسه کولای شو:

پښتو: پلار

فارسی: پدر

لاتینی او یونانی: Pater

زړه فارسی او اوستایی: Pitar

پښتو: لس

فارسی: ده

کردی

لاتینی: Dncem

اوستایی: Desa

دپورتنیو لغاتو د آوازو له ارتباطو څخه دامعلومیږی چه د (پلار) په کلمه کښی اصلی (ت) په منځنی موقعیت پر (ل) تبدیل شوی ولاکن لومړنی (پ) او آخرینی (ر) بیخی قدیمی دی. د (لس) په کلمه کښی اصلی لومړنی (د) هم په (ل) تبدیل شوی و. له داسی مقابلو او مقایسو څخه هم داښکاره شول چه ایرانی ژبی لکه: فارسی، او سیتی، کردی، بلوچی

وپښتو ته د کلمو داصوا تو له
نظره ډیری نژدی او د هند
ساسنکرتی ژبو ته لږ نژدی دی
د نورو هند و اروپایی ژبو سره
یی ارتباط هم د کلمو له شکلو
څخه معلومیږی . لدی کبله
مونږ پوهیدلای شو چه پښتو
یوه داسی ژبه ده چه په ایرانی
څانګه کښی چه داندوایرانی
یا آریانی برخه ده دژبو لویه
هندو اروپایی کورنۍ کښی
شامل یږی . په ایرانی څانګه
کښی داقدیمی ژبی لکه زړه
فارسی او اوستایی ډیراهمیت
لری. دزړی فارسی متون
دجګ غره په ډبره کښی په ٦
قرن ق ،م کښی ولیکل شول.
دا و ستایی د دو همی قدیمی
ایرانی ژبی زاړه متون
دزردشت په وخت کښی اولاً
لیکل شوی او پکښی ددهاو
دپارسیانو ددین معلومات پیدا
کیږی . داو ستایی ژبی
دلیکلو وخت تقریباً د هغه
وخت دمخه شروع کیږی چه
دایران دپاچا یانو تاریخی
متون په ډبرو کښی ولیکل شول.

لاکن داوستایی ژبی متون په
دغه قدیمی اصلی صورت ندی
ساتل شوی .مګر پس له ډیرو
پیړیو نه دسا سانیانو په وخت
کښی په ایرانی مخصوصه
الفبا بیا ولیکل شو. د داسی
مستشرقینو لکه ویلهلم ګایګر
جیمزدارمستتر او مخصوصاً
دګیورګ مورګن ستیرن
له څیړنو څخه دا ښکاریده
چه دپښتو داساسی لغاتو ډیره
برخه داوستایی دلغاتو سره
ارتباط لری . مونږ په دی
پوهیدلای شو چه د داسی
لاندنیو لغاتو دارتباطو په باب
کښی غور کوو. مثلاً د پښتو
(پسه)،اوستایی(پسو)د(رمی)
په معنا، لاتینی (Pecu) زړه
انګریزی(Feoh)، موجوده
انګریزی (Fee) یا پښتو
(زړه)، کردی زر (Zar)
او سیتی (Zarda) او
اوستایی زردیه (Zaradya)
دزمانی له ډیره فرقه څخه چه
دموجوده پښتو او قدیمی
او ستایی به مینځ کښی شته
دا امکان نلری چه د پښتو

صورتونه لکه د پښتو د آواز و
په شان له اوستایی ژبی سره
مفصله مقایسه شی.
لاکن مونږ داویلای شو چه
قدیمی پښتو د ۲۰۰۰ کاله زیات
پخوا یوه ژبه وه چه اوستایی
ژبی ته ډیره نږدی وه .
که څه هم پخپله لیکله شوی
او ستایی ژبه د پښتو سکه او
مستقیمه انا نده .
که د داسی رښتیانی واقعیتونو
په باره کښی فکر و کړو
ګرد و هغو پوښتنو ته چه
دمضمون په شروع کښی موذکر
کړی هم په ښه شان ځواب
ورکولای شو. پښتو ډیره قدیمی
ژبه ده ځکه چه له قدیمی
اوستایی او نورو هندی او ایرانی
سره ارتباط لری.
دآوازو نو قانونی تغییر او
بدلون چه د پښتو په کلمو
کښی پیدا کیږی ښئی چه
دپښتو پخوانی تاریخ داوستایی
اوزړی فارسی په وخت کښی
شروع کیږی اودموجوده
کلمو د مخصوصو شکلو نو په
باره کښی یوازی په دغو

قدیمی زمانو کښی اساسی او اصلی تشریحات ور کولای شو. وې پوښتنی ته چه آیا فارسی به تر پښتو قدیمی وی که نه؟ هم باید ځواب ور کړشی چه ددواړو ژبو چه د هند او اروپائی لسانی کورنۍ دهند وایران اومخصوصا دایرانی څانګی برخی دی د عمر له نظره بیخی فرق نشته اوستایی متون دزړی فارسی تر متونو قدیمی دی. موجوده پښتو له اوستایی سره ارتباط لری او موجوده فارسی له زړی فارسی سره.

کله داپوښتنه هم کیږی چه آیا موجوده پښتو قدیمی هند وایرانی یادهند واروپایی ژبو ډیر خصوصیات ښیی که نه؟ داسی ژبی هم شته لکه لیتوانی چه که څه هم ددوی منځنۍ او قدیمی دورې پـ کښی نه پیدا کیږی په خپله موجوده صورت له لږ تغییر سره ډیر قدیمی ښکار یږی.

موجوده پښتو د آواز و او د کلمو دشکلو له نظره قدیمی نه معلومیږی ځکه چه ډیر بدلون پکښی راغلی دی. لاکن په صورتو کښی یی قدیمی خصوصیات شته. مثلا دمؤنث اومذکر فرق چه په ایرانۍ ژبو کښی ډیر شاذ او نادر دی د اسمو اوصفتو دحالاتو فرق دماضی په زمانو کښی دمتعدی فعلو مجهول صورتونه.

ډیر کار د پښتو د خوږی ژبی دپخوانی لسانی تاریخ دپاره پاته دی اوس یوازې د اوازو د تاریخ په باب دمقایسی څخه معلومات لرولاکن تراوسه پورې دصورتو اودصورتو د ترتیب په باب کښی دژب پوهانو له خوا مفصله پلټنه نده شوی. هیله شته چه په راتلونکو زمانو کښی دامهم کار وشی. (پای)

(د۷مخ پاته)

داجتماعی دردوددرمل دپاره یوه ښه نسخه اودرمان کېدای شی اودهر ډول سعادت اوانکشاف دپاره کافی دی.

بالاخره په اجتماعی ادبیاتو اولیکنو کښی داختلاف موانع اودلائل زیات موجود دی چه مادهغوی دجملی څه لږ ذکر کړه. او هیله کوم چه پدې واسطه به زما مرام او مقصد ښه ترا څرګند شوی وی اوددې دپاره چه دا موضوع ښه حل شی دپوهنی اوروزنی دپاره دترویج اوتعمیر وسائل باید تهیه شی. د پوهانو فلسفی تیوری او نظریات مطالعه شی. او تر ټولو مهم دادی چه حقیقی اجتماعی ژوند عملا ترمطالعی او اصلاح لاندی ونیول شی. اود ټولنې هر ډول اجتماعی اختلافات او سوء تفهم دپوهنی دلاری حل کړه شی. داسخته وظیفه لومړی دلیکوالو وظیفه ده چه دلیکنی مثبت طرز زده کړی.

که څه هم دلیکنی ابتدائی اقدام دنورو کار وپه څېرخام اوبی نتیجی وی مګرمونږ امید لرو چه دانتقاد علمی او ادبی روح به عالی انکشافات او اصلاحات راوړی. (پای)

ع، ص

علمي څنګه وی!!؟

دځومودی نه دځینو لیکوالو په خولو کښې (علمي) کلمه لویدلی ده.

ما پخپله ډیر فکر کاوه علمي څه معنی چه ځینې لیکوال یې وائي چه علمي مقالې ولیکلی شي او علمي څیړنې باید وشي اخبار یا مجله دی عملي شي.

شاید چه زما غوندی دځینو نورو لوستونکو سره به هم دا فکر وي چه علمي څه معنی؟ او مجله څنګه عملي کیدای شي؟

په دې وختونو کښې چه پوهه لوړه تللی او معارف مخکښې تللی دی په خبرو پوهېدل زما غوندی خلکو ته که هم ګران شوی دی.

ځکه چه زه د عربي علومو زده کوونکی یم د عربي علومو لویه تقاضا دا ده چه دهرشي د پاره به په ذاتیتا تو تعریف کوی.

خواوس خلك دیوی علمي موضوع څېړل په مثالونو کوی نو د مجلې یا اخبار علمي کیدو یا علمي مقالو په باب کښې کوم جامع تعریف ما نه دی اوریدلی.

کله یو دبل نه اورم چه د مجلو علمي کول مثلا تطبیقي ادب ته علمي ویلای شو.

ښاغلی شفیق د الفلاح په مجلې کښې لیکلی و چه ترڅو د مقالو مأخذونو باندی حواله ورنکړی شی د علمي حیثیت څخه را لویږی، یو سړی شپې سبا کوی او یوه مقاله او کتاب لیکی چه د خپل مغزو نه یې راوباسی زما مطلب دا نه دی چه دغه لیکوونکی به هیڅ لوستی نه وی البته د ځینو موضوعاتو د لوستو او مزاولی څخه به ورته داسی ملکه پیدا شوی وی چه هغه لو سقل شوو شیانو ته بیخی بل رنګ ورکړی د مثال په ډول ښاغلی محمد ګل مومند او ښاغلی رښتین د پښتو ژبې ګرامرونه لغات اشتقاقونه او ترکیبونه لیکلی دی — زه دا ویلای شم چه دا د دوی ښاغلی د مغز و محصول دی.

ځکه که ښاغلی رښتین مثلا عربي نحو لوستی ده نو د پښتو قواعد خو عینا د عربي قواعد نه دی که ښاغلی رښتین د پښتو یو کلیه قایمه کړی وی. د ډیری استقراء نه پس به یې یوه قاعده جوړه کړی وی نو د دی حواله په چا وکړی؟!

که حواله ورنکړی مونږ دا ویلای شو چه دا کتاب علمي نه دی؟!

په دې هم ښه پوهیږو چه چه ښاغلی رښتین د پښتو ګرامر د عربي، اردو، فارسي حتی دا نګریزي ګرامر په رڼا کښې لیکلی دی.

مګر دا نشو منلی چه ښاغلی رښتین کټ مټ د نورو ژبو قواعد په پښتو کړی دی او که داسی وی نو هغه

بـه د پښتو گـرامر نه وی
بلـکه د فارسی ، عربي یا بلی
کـومی ژبی گـرامر به وی
په پښتو ژبـه کښی زه اوس
دعمومی بحث نه خصوصی بحث
نه راځم او د کـابل مجلی
په باره کښی خبری کـوم ،
ځینی ښاغلی چه وائی کـابل
مجله باید علمی شی ، هغوی به
ددی خبری وضاحت په خپل
فـکر کوی او کـه زه چیرته
ووایم چه کـابل مجله دی
علمی شی نو زه به د خپل
مطلب وضاحت په لاندی ډول
وکـړم :

لـکه څنـگه چه ښاغلی
خـادم ویـلی دی « کـابـل
مجله ادبـي مجلی ده طبی ،
تخنیـکی یا فزیکی مجله نده »
چه مونږ په کښی د دی قسم
خپرونی وکړو ، بلکه ښائی
چه په کابل مجله کښی د پښتو
املا او انشاء و څېړل شی یعنی
د پښتو لغات ، دلیکلو سبك ،
رسم خط ، گرامر ، اشتقاق ،
ترکیب ، فلالوجی فصاحت
بلاغت ، بیان ، بدیع په پښتو
کښی تطبیق او نشر شی ددی
د پاره چه دا ژبه د نورو علومو
د منلو د پاره تیاره او مستعده شی
تر څو چه پښتو په ادبی لحاظ و نه
روزل شی نور علمونه په پښتو
کښی را وستل گران او عبث
دی .

گران په دی دی چه اول
لیکونکی د خپل مطلب اداء
کولو د پاره لغت او یا طرز
نه لری هر لیکونکی د ځانه
یو څه وضع کوی او خپل
مطلب په پښتو کښی لیکی
د بلی خوا نه لوستونکی
د لیکونکی د ځانه نوی
وضع شوی اصطلاح څخه خبر
ندی هغه دده د مقالی او مضمون
څخه هیڅ استفاده کولی نشی
د مثال په ډول پښتو مجله
کښی چه د پښتو اکاډیمی
ئی د پیښور نه خپروی د اتم
په باره کښی علمی مقالی خپره
وی . ما ته د هغی مقالو فهم
د هغی نه گران دی چه دا
ډول مقالی په عربی ژبه کښی
لولم او عبث خو په دې دی چه
لږ ورو سته د لیکونکی څخه
خپل وضع شوی شیان هیرشی
نو بیا پری نه لیکونکی
پوهیږی او نه بل څوك ددی
نه علاوه کابل مجله چه
د علمی خپرو نو آرزو لری
د پښتنو عادات ، د فکر طرز ، خوی
ممیزات او دهغوی محلی روایات
او کسی یعنی کوم شی ته چه
پښتو نولی ویل کیږی نشر
کړی مونږ مخکښی د تطبیقی ادب
ذکر د نورو د خو لو څخه هم
وکړ .

داهم یو ضروری کار دی
او دژبی په وسیع کولو کښی
ډیره اغیزه لری .

یوه بله خبره هم باید و کړم
ځینی لیکوال دا ښه گڼی چه
سوچه پښتو لغات استعمال کړی
او پدی کښی ډیرزیار باسی نو
پـه دی وجـه ځـینی داسـی
کـړ کـیجـنـی او ډیـری
نا ما نوسي کلمی او لهجی
ولیکی چه دهغی څخه غیر پښتو
کلمات په سل درجی ښه وی
د بلی ژبی لغاتو استعمال څخه

دیوی ژبی اصلیت ته صدمه نه
رسیږی تاسو قرآن و لولیء
چه‌دعربی‌ادب لوړه نمونه ده
اوعربی لویو ادیبا نو ورته
سر کښته کړی‌دی‌اودهغی‌دمثل
راوړلو څخه عاجزشوی‌دی .

اودعربی ژبی‌دنوروخبرو
نه‌علاوه‌یو لوی ادبی افتخار
بلل کیږی. بیا هم غیر عربی
کلمی لری .

دغه‌فارسی چه‌تاسوئی‌وینیء
دوه برخوته زیاته عربی او
یوی برخی نه کمه فارسی ده
همداوجه‌ده‌چه‌دفارسی‌نویسندگی
بې‌دعربی‌دزده کړی‌څخه‌ډیره
مشکله ده‌اودهمدی‌امله‌دپوهنی
وزارت‌په‌مکتبونو کښې عربی
پروگرام‌تقویه کړ .

شاید دد وی سره دا فکر
وی چه‌دالغات شایع‌شی‌اوتعمیم
پیدا کړی دلته دوه خبری‌دی
یوه‌داچه په‌یوه‌خاصه موضوع
خلك پوه شی ، ددی خاصی
موضوع دلیکوال وظیفه داده
چه خلك پوه کړی او په هغه
کلماتو ورسره وغزیږی چه
دهغوی په‌خولو کښی مستعمل
وی اوداکثریت مراعات‌وشی
اوداده کارندی چه لغات
عام کړی دلغاتوعامول لغت‌دفن
دعالم کار دی‌چه‌هغه‌باید‌لغت
راتول ضبطاونشر کړی‌اوخلك
ئی په‌معنی وپوهوی ترڅو چه
دخلکو په‌خولو جاری‌اوغوږونه
ورسره آشنا شی بیانولیکوال
حق‌لری چه هغه پخپلو لیکو نو
کښی راوړی که‌لغت‌عام نه‌وی
اوڅوك ئی استعمال کړی‌دهغه
کلام دفصاحت له‌درجی څخه
دوه هندوانی په یو لاس
کښی لوبول اوپه دوه جالو
کښی پښی ایښودل گران‌دی
په‌همدی غرض ماپه پښتو ژبه
کښې دفصاحت او بلاغت‌خیرنه
شروع کړی ده چه‌دلوستونکو
داستفادی‌دپاره به‌ئې‌په‌راتلونکو
مجلو کښی نشر کړم .

انشاء الله‌تعالی

داو هنری لیکنه

دښاغلی سعدالدین ترجمه

اخری پاڼه

دواشنگټن سکویر په لویدیزی خوا کښی سړ کو نه لکه لیونیان هر یو په یوه طرف تللی او بیا لکه لیونیان یو په بل ورګډ شوی او دیو بل په نس یی پښه ایښې او بیا یو له بله تښتیدلی دی. که سړی په یوه سړك روان پس له یوه ساعت مزله نه بیر ته هماغه خپل د پیل ټکی ته ورسیږی. همه غه لیونی ځای دی چه دشاعرانو او رسامانو لیونۍ طبعه یی ډیره خو ښوی او هر کال جوپې جوپې هنرمندان بې کاره بې روزګاره په دې کښ لېڅو کښې خواره واره ګرزی.

په دی شاعرانه ځای کښې دسرو خښتو یوه درې پوړه ماڼۍ ولاړه ده چه دوونجونو دخپلی نقاشۍ ستو ډیو پکښی جوړه کړی. (جانسی) او (سوی) دواړه سره خوږی ملګرې وې او دواړو به خپلی نقاشۍ په همدې ماڼۍ کولې. دا نو دمی میاشت وه خو چه نومبر شو، هوا یو واری سړه شوه او ورسره یو ځای دبریښ مرض هم راغی. دا مرض پس له څو ورځو دې ماڼۍ ته هم لاره وکړه او جانسی یی په سینه ووهله. دجانسی خوارکۍ بریښونه شول او کرار په خپل کټ پریوته.

یوه ورځ ډاکټر دجانسی خورلڼه (سوی) راګوښه کړه، او کرار یی ورته وویل «ستا ملګری په لسو کښی یو چانس دروغید ولری» ډاکټر خپل ترمامتر په دسمال پاك کړ او ور ځیر شه، بیا یې نو (سوی) ته وویل «او داچانس دادی چه دا پخپله ژوند وغواړی، ستا ملګری ډېر ځان ځوروی او له ژونده یې تمه لنډه شوی ده، لکه چه په کوم شی اخته وی که څنګه؟» سوی وویل «نه په څه شی خواخته نه ده، په یو رسم یې پیل کړی و، لاخلاص کړی یې ندی په هماغی کښی به فکر کوی» ډاکټر وویل «نه بل شی می درته ښوول، په کوم سړی خو به مینه نه وی؟» سوی وویل «نه نو، زه به تیروتی یم، په هر صورت زه به خپل ټول بشری کوښښ وکړم چه ستا خورکۍ جوړه شی خو زما عادت دی چه که زما مریضان له ژونده تمه وشلوی نو زه په سلو کښی پنځوس دوی په مړو شمېرم.

چه ډاکټر لاړ نو سوی یوې تیارې وړې کوټی ته لاړه او خپل جاپانی ګلالی دسمال یې په ژړاله او ښکو خیشت پیشت کړ، بیا یی نو سترګی وچی کړی، خپله د نقاشۍ لوحه یی دځانه سره واخسته او دجانسی کټ ته ورغله.

جانسی په کټ کښی غلې پرته وه، هیڅ نه خو ځېده،

اوسترگی بې د کړکۍ څخه
بهر خواته ځیرې وې . سوی
خپله لوحه ترمخ ودر وله او
دیوې مجلې دفرمایش رسم ئې
شروع کړ ځوان نقاشان
خپل رسمونه لمړی په مجلو کښې
شروع کوی، ځکه په مجلو کښې
ځوان لیکونکی په اد بیاتو
پیل کوی، اودا د واړه ډلې
سره یو تربله جوړېږی .

سوی پخپل رسم لګیا وه
چه یو نری غوندی غږ یې ترغوږ
شو خور کۍ ته یې وکتل ،
خوهغه لاهماغسی له کړکۍ
بهر ځیره وه. او سترګی یې
په څه شی کښې خښې کړې وې
اودڅه شی په شمېرلو لګیاوه.

دباندی هېڅ نه ښکار ېده
یوازې یووچ میدان ؤ اواخر
کښې دخښتو یو دیوال وچه
دانګورو د تاك یوه څانګه
ور باندی خوره وه. دمنی
سړې هواد څانګی ټولې پاڼې
رژولې وې او لکه کړکۍ
لوڅه ولاړه وه .

سوی خپلی ملګرې ته کړه چه
«څه شی شمېرې، مادرجار کړی!»

جانسی وویل دو شپږ ،
ګوره اوس شپږ پاتې دی ،
درې ورځې پخوا په سلګونو
وې ، اوس یوازی شپږ پاتې
دی، هغه ده یوه بله هم راولویده
اوخ ! دومره زرزر رژېږی.
سوی په سلګیو شوه، وی ویل
«جانسی، مادرنه کربانه کړی
څه شی شمیری، پنځه څه شی ؟.
جانسی په کراره ورته وویل،
ولې ځان ناګاره اچوی ،
خو پاڼې درته ښیم پاڼی ؟ نه
ګوری چه په تاك کښې پنځه
پاڼی پاتی دی. اوس نو ورته
ګوره ، چه آخری پاڼه راو
لویږی ، زه هم له دی نړۍ
کډه کوم .

سوی ورته په موسکاو ویل: زه
دې وویر ولم، ماویل خدای
زده څه شی شمیری، زما کم
عقلی خور کۍ دپاڼو رژیدل
ستا دژونده سره څه اړه لری؟
ته دماشوما نو غوندی چټی
فکرونه مکوه. کراره څمله
چه تر څو راویښیږی ،زه به
درته یو څو ښکلی رسمونه وکړم
چه خرڅ ئې کړو دخدای پنډ

پیسی به شی او کرار به ئې په
خوند خوند خرڅوو، ښه ډیر
شراب به پرې واخلو .

دجانسی سترګی لاهماغسی
دتاك پاڼو ته ځیری وی ،
ځواب ئې ورکړ، نور شراب څه
پکار دی ، هغه ده بله پاڼه هم
راولوېده، ګوره څنګه په هوا
کښې ناڅې اوس نو څلور
پاتې شوی، زه غواړم آخری
پاڼه هم وګورم .

سوی: چانسی خور کۍ قول
راکړه چه تر څو چه ما خپل
رسم نه وی خلاص کړی ته
سترګې پرانه نیزی. زه باید
دارسمونه سباته ور ولیږم .
رڼا راته په کارده که نه
کړکۍ به مې تړلی وای .

جانسی: ولی خپل رسم په
بلې کوټی کښې نه کوی ؟

سوی: تا یوازې پری ښوولی
نه شم او نه غواړم چه ته یواځی
پاتی شی اودی میراتو پاڼو ته
وګوری .

جانسی : ښه زه به خپلې
سترګی پټی کړم خو چه ستا
کار خلاص شو نوما خبره کړه

ځکه چه غواړم آخري پاڼه وګورم .

اوخ! ډېره ستړی ستومانه یم غواړم چه د آخري پاڼې په لویدلو خپل ځان د ژوند له غیږو باسم او دا بدیت په بی پایانه سیند کښې لاهوشم او لکه آخری پاڼه ځان د مرګ د باد څپو ته تسلیمه کړم .

سوی: کراره ویده شه، زه به بهرمن را وغواړم چه خپل رسم پوره کړم بهرمن زما موډل دی، د ملا څېره لری او زما د رسم د پاره ښه مناسب دی اوس نوستر ګی پټی کړه خور کی، تر څو چه زه را ځم پام کوه ویې نه غړوی .

زوړ، بهرمن یو رسام دا چه په همدې ماڼۍ تر دغو نجونو یو پوړ کوز اوسیده، د بهرمن عمر تر شپیتو ور تیر ؤ. دی په رسامۍ کښې نا کام غوندی ؤ څلویښت کاله ئې پر له پسی برس په لوحی راښکلو خو حتی یوه څېره ئې هم رسمه نه کړه.

همیشه به ئې ویل چه زه یو شاهکار رسموم خو هیڅکله ئې هغه پیل نه کړ .

څو کاله ئې غیر له اعلانو او خندنۍ رسمو بل شی و نه کښه . دده دژوند اړتیا عموماً له دی لاری پوره کېده چه پخپله به نورو رسامانو ته موډل شو. بهرمن یو مهربان سړی ؤ چه همیشه به ئې خپلو ګاونډیو رسامانو سره مرسته کوله .

سوی د بهرمن وړی خونی ته ور غله . د خونی په یوه ګوټ کښې د نقاشۍ لوحه په درو لرګیو ولاړه وه همدا لوحه وه چه بهرمن غوښتل سپین شاهکار پکښې رسم کړی. لوحه هماغسی سپینه وه او یو قلم هم ور باندی تیر شوی نه و. بهرمن د شرابو سره ډېره مینه وه او چه نشه به شو د خپل راتلونکی شاهکار قصی به یی کولې .

سوی د جانسی د نا جوړۍ قصه ورته وکړه او وی ویل که دا آخری پاڼه ولویږی جانسی هم د مرګ په خطر کښې ده.

زوړ بهرمن په قهر وویل «دا مزخرفات دی، جانسی ولی ځان دغسی وړوکی وړوکی کوی ؟، ما ګمان نه کاوه چه اوس هم په دنیا کښې داسی ناپوه خلك شته چه خپل ژوند یوی پاڼی پوری تړلی وبولی، زه نور ستا موډل کېدی نشم ځکه چه ته دومره بی کفایته ئی چه خپله ملګرې له دغه واړه فکر نشی ساتلی » .

سوی: خیر دی بهرمن کاکا که زما موډل کېږی نه، فرق نه کوی خو دومره درته وایم چه ته یو بی خونده، چټی زړوکی یی.

بهرمن: ته خو ښځه یی ښځه کوم کاپر درته ویلی چه زه نه موډل کېږم ؟ هر کله چه ته وغواړی زه تیاریم. ما یوازې دومره ویل چه جانسی خوار کی دې خدای روغه کړی .

بهرمن او سوی د جانسی خونی ته ور وختل، جانسی ویده وه . دواړو له کړکۍ دباندی وکتل . سوړ باد لګېده، باران او واوری یو ځای په اوریدو پیل کړی وو.

دواړو په پټه خوله یو بل ته سره وکتل . دغم نښی د دواړو په مخو کښې لېدل کېدی .

بهرمن پټه خوله یو دیګی نسکور کړاو پری کښینا ست او سوی خپله درسم لوحه راوړله د ه ته یی کتل اوز وړ ملایی چه په یوی ډبری ناست وی رسماوه.

بل سهار چه سوی د خو به را کښینا سته، کتل یی چه جانسی ویښه پرځای پر ته ده او سترګی د کړ کی په شنی پر دی خښی کړی دی.

په کراز غږیی وویل سوی پرده را کا زه چه زه آخری پاڼه وګورم.

سوی زړه نازړه پرده بېرته کړه.

خو، عجب د شپی د باران واوری او باد سره بیا هم یوه پاڼه په تاك کښی پاتې وه.

دا پاڼه لاتر اوسه هماغسی شنه وه، څنډی یی لږې ګونځی او ژیړی وې او شل فوټه له مځکی جګه په ونی کښی «هماغسی په قوت زنګیده.

جانسی وویل «دا آخری پاڼه ده. باید د بیګا شمال راغور ځولی وی، خو نن به هرو مر رژ یږی او زه به هم ور سره مرم.

سوی ورته وویل، ګرانې خور کی که په ځان دی زړه نه سوزی په مار حم وکړه. بی تا به زما حال څنګه وی؟

خو جانسی ځواب ورنه کړ.

د [illegible] و و غ [illegible]

هغه روح دی چه د بدن څخه دوتو خیال لری.

ورځ تیره شوه او حتی د شپی په سپوږمی کښی هم پاڼه هماغسی په تاك کښی ښکاریده. په همدی شپی کښی باران او باد بیا شروع شو او دوی مجبور شول چه کړ کی وتړی. د سهار په رڼا بیا بی رحمې جانسی سوی ته د کړ کی د خلاصولو امر وکړ. خو پاڼه لا هماغسی په ونې کښی کلکه ولاړه وه. جانسی ډېره شیبه ورته ځیره شوه بیایی نو مخ سوی ته کړ، وی ویل سوی خور کی زه څومره نا کاره نجلی یم. دا آخری پاڼه ځکه نه لویږی چه ما پخپلی ګناه پوه کړی. د مرګ غوښتل ګناه ده خور کی ډېره وږی یم لږ کباب خو راته وکړه. لږې شیدی هم راته وغواړه، نه، لمړی ته هغه هیندا ره راوړه چه زه مخ په کښی وګورم. یو څو بالښته می تر څنګ تکیه کړه چه زه کښینم او ستا کباب پخول وګورم. یو ساعت وروسته یی وویل سوی، زه غواړم چه د ناپل د خلیج رسم یو ورځی وباسم.

ما سپږین پس له ډوډی ډاکټر راغی او سوی یی بیا ګوښه کړه ورته یی وویل جانسی د ژوند چانس بیاموند زر به رکه روغه شی، ښه قوی خواړه ور کوه.

ډاکټر په آخره کښی وویل ستا خور کی اوس جوړه وه او زه اوس ځم چه ستا سی د مانۍ په کوز پوړ کښی یو بل ناروغ د بهرمن په نامه وګورم. بهرمن درغیدو چانس نلری او نن به لدی ځایه درملځی ته و یوړل شی.

(پاتی په ۲۴ مخ کښی)

ښاعلی دوست شینواری

زما د خیال جهان

لکه ماشوم چه چیرته خوب په زنګیدو راولی
دخوب بوډۍ کښی ټټاکۍ په آللو راولی
لکه یومست چه ورنه عقل ټول خمار وړی وی
فکر او هوښ یې دجامونو کړنګهار وړی وی
لکه دمینې یورنځور چه په صحرا کښې وی پروت
په تصور په پسته غیږه د لیلا کښی وی پروت
لکه یووږی مسافر چه په کوڅو ګرزی . . .
فکر او خیال یې په هړو مړو بنګلو کښې ګرځی
لکه جسد دیوشهید چه په میرو کښی وی پروت
روح یې په عرش او په کرسۍ دی په ایرو کښې وی پروت
ملګرو؟ داسی رانه خیال یوبل جهان ته لاړ
نه یم خبر چه کوم مکان که لا مکان ته لاړ
سر په زنګون په فکر ناست وم په سودا کښې ومه
د تصور دلوی جهان په تماشا کښې ومه
باران داوښکومې په مخ ؤ لوې طوفان جوړ کړی
راته ګریوان کښی تصور ؤلوی جهان جوړ کړی
هسې جهان چه دځوانۍ پاکو هیلو نه وی جوړ
د لیونتوب او محبت د سلسلو نه وی جوړ
دلیونو دزړو دخاورو درزونه وی جوړ
د نیم سوخته ؤ پتنګانو دایرونه وی جوړ
د تخیل معمار جوړ کړی په حکمت سره ؤ
د شاعرۍ احساس لیدلی په قت سره ؤ
لکه پرده د سینما د تماشو نه ؤ ډک
واړه دمینی درازو او د مزونه ؤ ډک

هلته نه زورونه زور گیرونه با دا رو په کښې

هلته نه اوښکې تو یول او نه آ زارو پکښې

هلته چا لاس داحتیا ج بل ته نیو لی نه و

دبل په‌در کښې څوك کنځلی څوك رټلی نه و

هلته دا کبر دا غرور دد نیا دا رونه و

دا زلی ذلت نصیب دو مره دخوا رو نه و

هلته غریب به نه رټلو د گم شو سره چا

دو ږی ستر گې نه ویستلې د کتو سره چا

دزمانې دهای او هوی دطو فا نو نه په څنگ

دولږې تندې پرېشا نۍ دارما نو نه په څنگ

هلته نه عقل نه حکمت او نه هوښیارو په کښې

یو محبت اولیو نتوب هلته وا کدا رو پکښې

دتوروزلفو پېچ او تاب به‌پکښې شپې راو ستی

دا ننگو سبا به‌ور ځی و ر پسی را وستی

دمینی نو ی سلسلی به ز مانی و ی پکښې

دتخیل پردې پردې به ورځې شپې وې پکښې

دخما رو ستر گو ا ثر به تل بهار و دده

د لیو نو څیر ی جا می به تل سینگا رو دد ه

شرابی شونډو ورته رنگ ود خندا ور کړ ی

هر ی زر ی ته ېی یوراز د تما شا ور کړ ی

ټول کا ئنات دلیوتو په‌یوه نڅا نڅیدل..

دشو خوستر گو دمستۍ په یوه ادا نڅیدل

دشاعرۍ معما رجوړ کړی ؤ دخیا ل په حکمت

هلته نه لاس د طبیعت واو نه کار د فطرت

دلیونتوب اومحبت سره همرازوم پکښې

ددی دنیا اومافیها څنې بی نیاز وم پکښی

زه یو دمینی لیونی وم هره خوا گرزېدم

کله په سم کله په غره اوپه صحرا گرزیدم

غیر اوغمازرا سره نه وو زه تنها گرزېدم

خولاس ترلاسه داشناسرة پخلا گرزېدم

کله گیلې او کله ناز کله دعشق سندرې

یو به دبل سرة دمینې کړې خوږې خبری

کله به محوه یو په بل کښی شونا بود به شو لو

لکه یو زړة اویوة ساه او یو وجود به شولو

ناڅاپه غږشو دوسته! پاڅه ولې ناست یې حیران

په یوة آوازمی شو گډوډ هغه دخیال لوی جهان

(د۱۹۵مخ پاته)

بله ورځ ډاکټر بیا راغی، سوی ته یی وویل لوبه مو که حیر وی وی و گټله جانسی اوس بیخی روغه ده. ښه خواړه ور کوه چه تکړه شی. په همدی څاښت سوی د جانسی بستری نه ورغله جانسی د څه شی په او بدلو لگیاوه. سوی خپل «سونه ترې چارپیر کړه ورته یی وویل.

«جانسی خور کی، یوشی درته وایم. بهرمن دبریښو له لاسه نن په درملځی کښی مړشو. یوازې دوه ورځی ناجوړه ؤ. سرای وان چه په اوله ورځ کوټی ته ورغلی و وایی چه بهر من خیشت پیشت په خپلی کوټی کښی پروت و. سرای وان نه پوهیده چه ولی بهرمن داسی خیشت دې. خوو روسته یی یو بل څراغ له کوټی بهر بیامونداویوه زینه یی هم ولیده چه دیوال ته نژدی پرته وه. دزینی ترڅنگ لږ رنگ اویو څود نقاشی برسونه هم پراته وو. سوی جانسی په غیږ کښی ټینگه کړه اووی ویل چه خور کی ته نه پوهیږی چه په دومره بادو کښی داپاڼه ولی نه لویږی. داپاڼه بهرمن رسمه کړی ده او همدائی شاهکاردی دا شاهکار ئې په هماغه سړی شپی رسم کړی ؤ چه آخری پاڼه را لویده. (پای)

▲▲▲▲▲▲▲▲

حبیب الله «تبزی»

یوفونولوجیکی « » بحث

دپښتو دلیك دود، مسألې په لړ کښې

دپښتو دغږیزو توریو «Phonolo Gical» دڅرنګوالی او وېش په برخه کښې ځینې انتقادی خبرې:

هیله :

دهغې مینې له مخې چه یې زه دعلمی څېړنو سره لرم، دټولو پښتنو پیاوړو لیکوالو څخه هیله کوم چه دخبرو دکره کولو دپاره زما پدې مقاله باندې، دعلمی اساساتو له مخې، (بې رحمانه انتقاد) وکړی.

«تبزی»

ښاغلی کاکړ دکابل مجلې چلوونکی:

تا له ماڅخه غوښتی ؤ چه خپل نظریات دکابل مجلې دخپرونو دڅرنګوالی په برخه کښې درولیکم.

داده له دغې اوږدې مقالې سره یوځای اویا دمقالې دمقدمې په توګه خپل نظریات درلیکم:

ملګریه؟ څرنګه چه دپښتو ټولنې داساس نامې او ددغې ټولنې افغان اکاډمی» دغړیو دامتیازی نومونو اویا علمی څوکیو څخه لکه څېړونکی څېړنیار څېړنوال اوداسې نور چه دڅېړنې یعنی تحقیق دما دې څخه جوړ شوی دی څرګندیږی چه دپښتو ټولنې په کارونو کښې دپښتو ژبی اوادب اودپښتنو دتاریخ او کلچر اوهغو علمی او تحقیقاتی موضوعاتو په برخه کښې څېړنې، چه دپښتو ژبی، ادب اودپښتنو دتاریخ او کلچر دپرمخ بېولو، روښانولو او څېړلو په لاره کښې مرسته کوی ډېره درنه اویا په بله ژبه لومړی. برخه لری. نوله دې امله کابل مجله هم چه ددغې اکاډمی یوازینۍ مجله ده ښایی پدې لاره کښې ښه پوره اودرنه وی مګر څنګه چه لیدل کیږی له څوکلو نونه راپدی خوا خبره داسی نه ده یعنی په نوموړی مجلی کښې دا ډول مقالې ډېرې لږی لیدل کېږی تردی ځایه پوری چه دپښتو ټولنی غړې هم سره له خپل مکلفیته پدې لړ کښې څه نه لیکی اود مجلی دخپرونو دعمومې مرام دښوولو په برخه کښې هم دادبی، اجتماعی. او تاریخی کلمو ترڅنګه تحقیقی اوعلمی کلمې رټې ورکې دی(۱) خونه پوهېږم چه ولې.

ښایی چه دلته ځینې ښاغلی له ماڅخه داپوښتنه وکړی چه تادخپل مدیریت په موده کښې دانیمګړتیاوې ولې پوره نه شوی کړای.

(۱) دعلمی کلمې دلیکلو سره ددغې مجلی دخپرونودمرام دښودلو په برخه کښې زه ځکه موافق یم چه که نور څه نه وی نوژب، پوهنه (فلالوجی) خونن ځانته علم او له دغې ټولنې سره نېغه اړه لری.

زه وایم چه‌دا پوښتنه ډېره
پر ځای او معقوله ده مګر
ګمان کوم چه‌زما ځواب به
هم څه بیځایه او نامعقوله نه‌وی
او هغه داچه یو خوماد خپل
څو ورځنی مدیریت په موده
کښې برسیره د ځینو مقالو
پر پیدا کولو د مجلې دپښتو
پرښه کولو او هری مجلی ته
دیوې ژوندی سرمقالې په لیکلو
ایله دمجلې ور وسته پاتې ګڼی
په ډېره بیړه سره راوېستې او
مجله مې دهمدغو خپروشوو
مقالو په خپرولو (هرڅنګه
چه وی) خپل وخت ته را
ورسوله مګر خدای شته چه
دمجلې دپوره لوړولو څه
فرصت می و نه موند یعنی کله
چه مې څه نه‌څه وخت وموند
او مجله مې په ټاکلې نیټې
خپره کړه هلته د مجلې څخه
ولاړم که نه وی نو به مې
پدې برخه کښې هم دمجلې
رنګ هرومرو دصحافت او
نورو مضامینو څنګ پرڅنګ
بدل کړی وای.
بله داچه په همدې لږوورځو
کښې مې برسېره دپښتو ټولنی
پرغړیو دډېرو نورو پښتنو
لیکوالو څخه‌هم ددغه لړ
مقالو غوښتنه وکړه مګر له
بده مرغه پرته دیوی مقالی
څخه بل هیچاهم څه راونه لیکل
خوپوه نه شوم چه ولې.
آیا ماته یی په داتنګ
وخت کښې څه نه شورا لیکلای
او که یی له آره لیکل
ګران وې.
البته یوازی دومره پوهیږم
چه پرته د کابل مجلې څخه
د کابل په نورو خپرونو کښې
هم دغه ډول پښتو مقالی ډېرې
لږ څه چه نږدی ورکې دی
خو ملګریه! دادی اوس
چه‌ته د کابل مجلې چلوونکی
شوی او له‌ما څخه د کابل
مجلې دخپرونو د څرنګوالی
په برخه کښې نظریه غواړی
زه حاضر یم چه خپل نظریات
په عملی ډول سره تاسو ته
دروړاندې کړم. یعنی نه
یوازی داچه دنظریاتو په‌نامه
اوتې بوتی ووایم اوخپله‌ورځ تېره
کړم بلکه دیوه عملی
انسان په څېر دخپلې هرې
نظریې تر څنګه عملی ګام
هم واخلم له دی ځایه ده چه
دادی دخپلې لومړنۍ نظریې
یعنې هغې نظریې سره سم چه
مې دهمدې مقالی دمقدمې په
توګه درلیکله دامقاله
درکوم ترڅو یې له دغې
نظریې سره څنګ پرڅنګ
خپره کړی هیله‌ده چه وروسته
له دې به‌هم ستا د یوه
څېړونکی مرستیال په
حیث لومړی په همدې لړ کښی
اوبیا دخپلو نورو نظریاتو په
لړ کښې پخې پخې مقالی
درولیکم
څرنګه چه‌دمقالې له عنوان
څخه څرګند یږی پدې مقالې
کښې زما خبرې پر هغی مسألې
باندې دی چه پدې وختو کښې
له‌یوې خوا د ختیځ پوهانو او
له‌بلې خوا بیا دلرې او برې
پښتونخوا د ادیبانو تر منځ
ترڅېړنې لاندې اوهغه دپښتو
دلیك دوداوتوریو مسأله‌ده.
پدې برخی کښې د پښتنو
ادیبانو یوه ډله وائی چه

پښتو توری دې یو ډول ولیکل شی او بله ډله وائې چه بل ډول.

څوك وائې پښتو دې په همدا ننني لیك دود پاته شی او څوك وائې یه لاتین دې شی.

مگر زه پخپله داوس د پاره پدې برخه کښې هیڅ هم نه وایم.

البته یوازې دومره وایم چه په کابل کښې د پښتو د لیکلو د پاره د لاتین توریو د ټاکلو کار دیوه ځانته مطلب د پاره روان دی.

نو له دې امله دا راته ضرور و برېښېده چه د پښتو ژبې د ځینو (په تېره بیا غږیزو) توریو په برخه کښې څه ولیکم. تر څو د پورته کار د کېدلو په صورت کښې ما هم خپل کار څه نه څه ترسره کړی وی.

البته زه دا نه وایم چه زما خبرې به رتی کره او پوره وی ځکه زما مطالعه هم پدې برخی کښې بې استاده او هرومرو نیمگړی ده.

له دی امله د ټولو پښتنو لیکوالو څخه هیله کوم چه د دې کار د کره کولو او د پښتو د خدمت د سرته رسولو د پاره لومړی زما پر مقالی «بیرحمانه انتقاد» وکړی او که نه وی نو خپل نظریات په کومه بله بڼه کابل مجلې ته واستوی.

څرنگه چه زما دا مقاله له آره د غږیز و توریو د اصالت او ویش په شاؤخوا کښې ده نو لومړی باید دا وویل شی چه په پښتو کښې غږیز توری کوم او په څه نامه تعبیر شوی دی.

د پښتو ژبې د غږیزو توریو په برخه کښې ډېری خبری شوی او هرچا هر څه ویلی دی. مگر ډېر ځله د دغو توریو تعریف او ویش د خپله توریو سره نه کښینی.

مثلا کوم وروستنی او نږدی ښه تعبیر چه په پښتو کښې لدغو توریو څخه شوی هغه دا دی چه پښتو «غږیز توری په امدادی توریو (۱) سره تعبیر کړی او ویل شوی دی چه دا توری په لوستلو کښې د نورو توریو سره مرسته کوی، مگر کله چه د امدادی توریو په برخه کښې جلاجلا غږیزی او تعریف او تقسیم ئې کوی هلته بیا د «خولی» د کلمی «ی» د تانیثی ثقیلې «ی» په نامه او د «کنډو» د کلمی «و» د ملین «و» په نامه د «ماکو» د کلمې د «و» او د «خولې» د کلمې د «ی» سره په یوه لړ کښې راولی او واړه یو ډول «Vowels» بولی.

ناخبره له دې څخه چه دا خبره غلطه ده ځکه د «خولی» د کلمی د «ل» د توری نه وروسته او د «کنډو» د کلمی د «ډ» د توری نه وروسته غږونه یو ډول ځانته مرکب غږونه دی چه هغه په علمی اصطلاح سره «ډفتانگ Diphthongs» بولی یعنی مفرد توری او یا خاص «Vowels» نه دی.

دغه ډول دی د پښتو د «واونو» ځینې نور تعبیرات چه یا رټ غلط او یا بیا د تورو دوېش او جلاجلا تعریفاتو او اصالت سره ډك مخالف برېښی لکه حروف علت او یا داسی نور.

زه خو وایم چه په پښتو کښې د «غږیز» کلمه تر نورو

(۱) امدادی غږ په ژب پوهنه کښې ځانته اصطلاح ده چه زه به بیا خبری پرې وکړم.

کلمونه د «Vowels» دپاره ډېره ښه او پخه کلمه ده، چه نورو نومونو او تعبیراتو ته هېڅ احتیاج هم نه پرېږدی.

ځکه له آره هم غږیز توری هغه توری دی چه یې دویلو په وخت کښې د غږیز جهاز دیوې ځانته برخې غږیز مزی په رپاراځی او یو ډول ځانته غږ ورڅخه پیدا کیږی.

د پورته خبرې د اثبات دپاره دا لاندې ازموینه چه یوه ډېره پخه او ساده ازموینه ده تر سره کړیء.

لومړی مو غوږونه پخپلو ګوتو پوره دپ کړیء.

وروسته بیا د «ت» توری د «ته» په بڼه لکه د «لته» په کلمې کښې او د «و» توری نږدې د «او» په بڼه (۱) لکه د ماکو په کلمه کښې لږڅه په زوره ووایی وروسته تر ویلو به دا خبره پوره درښکاره شی چه د «و» ادا سره سم مو په غږیز جهاز کښې او چت غږ پیدا کیږی مګر د «ت» دادا په وخت کښې دا کار نه کیږی.

له دې امله زه وایم چه د «Vowels» د پاره ډېره پخه او علمی اصطلاح همدغه د «غږیز توری» اصطلاح ده او بس.

دغږیزو توریو پخوانی وېش

کوم وېش چه تر اوسه پورې د پښتو غږیزو توریو په برخې کښې شوی دی هغه هم څه درست نه برېښی.

ځکه د دغو وېشونو په ډېر وروستنی او قوی وېش کښې هم غږیز یا امدادی «و» پر درې ډولونو ویشل شوی او د «کنډو» یا «غوچ» د کلمو «و» هم دملین «و» په نامه په همدې لړ کښې راغلی دې مګر درسته داده چه دغه ډول باید نه وی. ځکه:

۱- څرنګه چه د مخه وویل شو ملین یا د «کنډو» او «غوچ» د کلمی «و» مو دغږیز توری نه دی.

۲- یو ډول لنډ «و» لکه د «پندانه، بجړل، لڅ او لمړی» په کلماتو کښې پدغه لړ کښې هیڅ نه دی راغلی.

البته په دغو ګرامرونو کښې د «پېښ» ذکر راغلی دی مګر هلته هم دمثال څخه برېښی چه مطلب دا «و» نه دی ځکه کوم مثال چه هلته یاد شوی هغه د «ګوند» کلمه ده. اما د «ګوند، ګونګ کونګ، کونډ او ګول - ګل» د کلماتو «و» نه یوازې پېښ نه دی بلکه ځانته یو چپ توری دی چه وروسته به خبرې وکړم.

برسېره پر وېش د «و» تعریفونه هم له انتقاده خالی نه دی. خو ددې دپاره چه انتقاد ښه ښکاره وی لومړی باید د کوم پښتو لیکل شوی ګرامر نه دغه تعریفونه را واخستل شی او بیا خبرې پرې وشی. په یوه ښایسته معتبر پښتو ګرامر کښې د «و» تعریفونه په لاندې ډول راغلی دی.

(۱) ځکه نږدی د «او» په بڼه وویل شو چه غږ پوره «او» نه وی بلکه یو ځانته غږدی چه د ماکو د کلمې دوروستی غږ سره یوشی دی.

۱ـ هغه واوچه دمخه توری یې خفیف زور کی ته مایل پېښ ولری او، اوږد وویل شی.

لکه په «تور، کور، ښارو او زانگو» کې.

۲ـ هغه واوچه دمخه توری یې خالص او دروندزورولری او ډك او دروند وویل شی: لکه دسور، لور، تالو او کندو په کلما تو کښې.

٤ـ هغه واوچه دمخه حرف یی زور ولری او نرم وویل شی لکه د کنډو، او لو په کلما تو کې.

په پورته تعریفا تو باندې دا لاندې انتقادونه راځی:

۱ـ په لومړی او دوهم ډول «و» کښې چه د معروف او مجهول په نامه یاد شوی دی، داخبره رټه غلطه ده چه د «و» دمخه توری دې پېښ ولری. ځکه کوم غږ یا ددوی په اصطلاح حرکت چه د وی وایی د «و» د مخه حرف یې لری هغه پخپله همدغه غږیز «و» دی او بل پېښ هلته درك هم نه لری. ځکه دسور» او «کور» په کلما تو کښې یوازې یویو غږ او یا د دوی په اصطلاح حرکت موجود دی چه هغه وروسته له «س» او «ك» څخه راغلی او پخپله د «و» په واسطه ښودل شوی وی.

۲ـ په پورته تعریفا تو کښې چه د «و» د مخنی توری دحرکت په اساس بنا دی د «غوا» د کلمی د «و» دپاره چه دمخه توری یې ساکن دی د «کټواوبگو» د کلما تو د «و» دپاره چه دمخه توری یا حرکت یې زور کی دی او د «وریځ» د کلمې د «و» دپاره چه دمخه یې حرکت خولا څه کوی توری هم نشته، نه کوم نوم ور کړل شوی دی او نه په تعریفا تو کښې راغلی دی.

هو! کله که دوی دغه «واوونه» واړه د یوه چپ «و» په نامه باندې یوازی «و» بولی او ځانته نامه او تعریف ته یی څه ضرورت نه وینی نو بیا د «کنډو» د کلمی «و» چه یو «ډفتانگ» دی ولې پدې تعریفا تو کښې راغلی او ملین «و» بلبل شوی دی؟ ځکه کله که همدغه د «کنډو» د کلمې د مخه، چه «و» یی یو ملین «و» یعنی دمخه توری یې زوړدی، کوم عامل راشی لکه «له، په، و» هلته بیا د «و» نه د، د مخه توری حرکت زور کې کیږی او پدې تعریفا تو او نومونو کښې څه تعریف او نوم نه ورته پیدا کیږی.

گرامر خو لاڅه کوی چه د «واوونو» دې غلطو تعریفا تو په قاموسونو باندې هم اغیزه اچولې ده او هلته هم په لاندې ډول غلطی پېښې شوی دی:

مثلاً زه د پښتو قاموس د دوهم ټوك (٦٩٥) مخ څخه دا یوه کلمه د مثال په توگه را اخلم قاموس لیکی:

سوم: (ض مع س)، بخیل نحس. په پورته لیکه کښې د «ض» معناضمه یعنې پېښ او مطلب دا دی چه د «شوم»

په کلمې کښې د «ش» توری پېښ لری. حال دا چه د پخوانیو دلایلو له مخې د «ش» توری د «شوم» په کلمې کښې هیڅکله هم پېش نه لری.

دغه ډول د «ی» و ېش او تعریفات هم څه درست نه برېښی خو دا ده د دې د پاره چه مو انتقاد لږ ښکاره رنګ پیدا کړی، لومړی د پخوانیو پښتو ګرامرونو څخه د «ی» تعریفات او ویش را اخلو او بیا خبرې پرې کوو.

په یوه لیکل شوی پښتو ګرامر کښې چه په نورو لیکل شوو ګرامرونو کښې ښایسته معتبر ګرامر دی «ی» په لاندې ډول وېشل شوې ده:

۱ـ مجهوله «ی» هغه «ی» ده چه د مخه توری یې خفیف زیر ولری او نرمه او اوږده ولوستل شی، او د کلماتو په مېنځ او آخر کښې راځی لکه د «هېر» او «مستې» په کلماتو کښې.

۲ـ معروفه «ی» هغه «ی» ده چه د مخه توری یې درونډ او خالص زېر ولری او ډکه او درنه ولوستل شی، او د کلماتو په مینځ او پای کښې راځی لکه د «ویر» او «بیاتی» په کلماتو کښې.

۳ـ ملینه «ی» هغه «ی» ده چه د مخه توری یې زور ولری او نرمه ولوستل شی او د کلماتو په منځ او پای کښې راځی. لکه د «سیل» او «سړی» په کلماتو کښې.

٤ـ ثقیله «ی» هغه «ی» ده چه دغه توری یې زور کښې ولری او یوازې د کلماتو په پای کښې راځی، او پردوه ډوله ده یوه هغه چه د مؤنثو اسماوو په پای کښې راځی لکه «خولۍ» او «څوکۍ» بله هغه «ی» چه دا فعالو په پای کښې راځی (۱). لکه «وړیء» او «راغلیء».

په پورته تعریفاتو باندې دا لاندې انتقاد و نه راتلای شی:

۱ـ په لومړی او دوهم ډول (ی) کښې چه د مجهولې او معروفې (ې) په نامه یادې شوی دی، دا خبره رته غلطه ده چه د (ی) د مخه توری دې زیر ولری. ځکه کوم غږ یا ددوی په اصطلاح حرکت چه دوی وایی د (ی) د مخه توری یې لری هغه پخپله همدغه غږیزه (ی) ده او بل کوم غږ یا حرکت چه دی زېر و بلل شی هلته درک هم نه لری. ځکه د (هېر) او (ویر) په کلماتو کښې یوازې یو یو غږ او یا ددوی په اصطلاح حرکت موجود دی چه وروسته له (ه) او (و) څخه راغلی او پخپله د همدوی له خوا د (ی) په بڼه ښودل شوی دی.

۲ـ په پورته تعریفاتو کښې چه د (ی) د مخنی توری د حرکت په اساس بنا دی د (یږه) د کلمې (ی) د (زیار) د کلمې (ی) او د (پای) د کلمې (ی) ته، چه د یو ې د مخه توری غږیز

(۱) په دغه ګرامر کښې وروسته د یاګانو تعریفاتو نه لیکل شوی دی چه په پورته څلورو صورتونو کښې «ی» غږیز توری وی.

(الف) د بلې د مخه توری ساکن او د بلې دمخه توری هیڅ درك نه لری ، نه کوم نوم ورکړل شوی دی او نه په تعریفاتو کښې راغلی دی .

هو ! کله که د وی دغه (یا گانې) چه د هرې یوې د مخنی توری حرکت د بلې سره مخالف دی، واړه دیوې «ی» په نامه یوازې «ی» بولی او ځانته نامه او تعریف ته یې څه ضرورت نه وینی نو بیا د «خولیږ» د کلمې «ی» چه د «پای» په څېر د خپل مخنی حرکت سره «یو ډ فتانگ» «ی» ولې پدې تعریفاتو کښې راغلې او ثقیله «ی» بلل شوی ده ؟

۳ـ د «ی» په پورته تعریفاتو باندې بل انتقاد دا دی :

هغه «ی» چه په «سړی ـ مفرد» او «خولیږ» یا وړیږ کښې راځی او په پورته وېش کښې د غزیز وتوریو په لړ کښې راغلې ده او یا په بله ژبه داچه دملینه او ثقیله «ی» په نامه مفرد غزیزیا امدادی توری بلل شوی دی ، مفرد غزیز توری نه وی . ځکه هغه څرنگه چه مو د مخه وویل د خپل دمخنی حرکت سره (په پخوانی اصطلاح) یو ډول ډ فتانگ دی .

حرکات :

په لیکل شو و پښتو گرامرونو کښې د عربی یا پارسو په تقلید د سړی ـ مفرد د «ړ» د توری حرکت (۱) زور، د سړی ـ جمع د «ړ» د توری حرکت زېر د گوند د گ د توری حرکت پېش او د څوکی د «ك» د توری حرکت زور کی بلل شوی دی . پدې لړ کښې بیا دا خبره هم زیاته شوې ده چه د پېش حرکت اوس د «و» پواسطه ښودل کیږی .

په پورته خبرو باندی هم دا لاندې انتقادونه راتلو کی دی:

۱ـ نه د گوند د کلمې «گ» لکه د گونگ او کونگ په کلمو کښې کوم حرکت لری ځکه (ساکن) توری وی او نه په دغو کلمو کښې «و» کوم حرکت او یا غزیز توری دی. بلکه ځانته چپ توری دی چه ورو سته به بیا پرې وغزیږم .

البته کله که په پښتو کښې او یا پارسو او یا د عربی په شان پېش لنډوهغه د پمبې د کلمې د «پ» حرکت دی چه د پارسو د «پل» او د عربی د «قل» د پ او ق دحرکاتو سره یو شی دی او زه یی په پښتو کښې د غزیزو توریو په لړ کښې داوس د پاره یعنی تر څو پورې چه ځانته توری ورته تاکل کیږی لنډ «و» بولم .

۲ ـ په ځینو کلماتو کښې یو ډول چپ واو د ویلو په وخت کښې د گونگ د کلمې د «و» په څېر دورایه

(۱) د غزیز توری په بدل ځکه حرکت وایم چه تر اوسه لااصطلاح هدا ده او بل ډ ول ښه نه شی افاده کېدلای .

ښکاره دی. مگر د لیکلو په وخت کښې لادرکه وی. مثلا د گل په کلمې کښې چه تلفظ یې ښکاره «گول» دی.

۳: دغه حرکات چه له آره غږیز توری دی. مگر په پښتو لیك دود کښې په تورو سره نه دی ښودل شوی. بلکه لوستل یې دهرسړی خپل باطنی (؟) قدرت پورې اړه لری، چه دا خو په لیك دود کښې د یوی ژبې پوره نیمگړتیا وه او ښایی چه دځانته غږیزو توریو په ټاکلو سره به پوره شی لکه داچه دسپك زېر دپاره «ې» او ددراته زېر دپاره «ې» غیرشعوری وضع شوی دی.

ملفوظی او غیر ملفوظی «ه»:

په پخوانیو گرامرونو کښې دغږیزو توریو په لړ کښې یو ډول «ه» هم راغلې او پردوه ډوله و ېشل شوې ده:

۱. هغه «ه» چه دمخه توری یې زورولری او یوازې د کلماتو په پای کښې راځی. لکه پښه پښه او داسې نور.

۲: هغه «ه» چه دمخه توری یې زور کې ولری او د کلمو په پای کې راځی. لکه تره، زړه او داسی نو.

پورته خبرې هم له څو خواوو نه دانتقادوړ برېښی:

۱: څرنگه چه له دغو درو هاگانو (؟) نه یوه هم د «ه» دمخرج څخه نه اداکیږی نو یې له همدې امله د «ه» په نامه بلل څه درست نه برېښی.

۲: د «پښه» د کلمې او یا په اصطلاح ملفوظی «ه» او «زور» او د «زړه» د کلمې یا په اصطلاح غیر ملفوظی «ه» او زور کی رټ یوشی دی. مگر په لیکل شوو پښتو گرامرونو کښې دد وی پخپله اصطلاح عین حرکات کله حرکات بلل شوی دی او کله توری.

یعنی دغه حرکات هم حرکات بلل شوی دی او هم توری. یا په بله ژبه همدغه حرکات هم د حرکاتو په بحث کښې «زور کی» او «زور» بلل شوی دی او هم دغږیزو تورو په لړ کښې غږیز توری نه پوهېږم چه ولی؟ آیا حرکات او غږیز توری څه تو پیر نه لری او که څنگه. که یې یوشی بولی نو بیا جلاجلا بحثونه ولې تری جوړوی او یا داچه دخفی او جلی یا ملفوظی او غیر ملفوظی (ه) نومونو ته څه ضرورت پاتې کیږی، او که یې یوشی نه بولی نود (زړه) د کلمی د (ړ) او د (کتل) د کلمې د (ت) د توریو د حرکت ترمینځ څه تو پیر دی؟ چه یو یې په (ه) ښودل کیږی او بل یې همداسې.

۳ـ کله که د پښتو (ه) دپاړ سو په تقلید هر ومرو په ملفوظی او غیر ملفوظی سره وېشو او په پښتو کښې د ملفوظی (ه) پلټنه کوو هغه نود (پښه) د کلمی د پای توری نه دی. بلکه دا (ه) یعنی هغه (ه) چه د (ه) دمخرج څخه اداکیږی دپاړ سو د ملفوظی (ه) په توگه د کلماتو په سر، منځ او پای دری واړ کښې راځی. لکه د [هلك، بهیر او پوه] په کلماتو کښې چه په دې صورت کښې د [پښه] او (زړه) دواړو کلمو

هاگانې دپاړسود [خانه اولانه] د کلمو د (ه) په څېر غیر ملفوظی هاگانی دی، نه ملفوظی، [۱]

(٦):

دا نښه چه په عربی کښې همزه بلل کیږی په پښتو کښې هم په ځینو برخو کښی لیکل کیږی. مگر نه پوهیږم چه دڅه دپاره او په څه اساس!

مثلاً: پرون دغو ټی ملگری راغلی ؤ غو ټی یې ولیده او ښاد زړه بیرته ولاړئی!

خدای شته چه دې نښې خوله ماڅخه دپیل ډاکټر جوړ کړی دی. یعنی سره له دومره پښتو لوستلو لیکلو او حتی لولولو بیاهم و نه پوهېدم چه دا نښه (ء) څه توری او یاد کوم مخرج دپاره ده.

یوه ورځ زما د معلمی په شپو ورځو کښی یوه ښه زکی زده کوونکی پوښتنه راڅخه وکړه چه پدې جملی کښې (احمد ئی وواهه) د اهمزه د (ی) دپاسه ولی لیکیء ما په ځواب کښې ورته وویل چه دا همزه نه دی بلکه د (ی) سر دی.

ویې خندل او په خندا کښې یې وویل چه دلته که د (ی) سر دی نو په لاندی جمله کې چه د (و) دپاسه لیکل شوی هلته بیا څه شی دی.

مثلاً. (احمد راغلی ؤ)

دا پلالا ځوابه شوم او ورته مې وویل: ور وره! که د (ی) سروی خووی به او که نه وی زه یی هم نه پیژنم. بیا یې وخندل او زما په اجازه یې هغه کسه په ټولگی کښې تېره کړه چه څو کسو خپل کوم هوښیار ته یو کشپ وروړی او پوښتنه یې ترې کړې وه چه دا څه شی دی؟ هغه په ځواب کښې ورته ویلی ؤ جوار ورته واچوی ء که یې وخوړلو کوتره ده او که نه وی نو یې زه هم نه پیژنم.

ټولو وخندل. ما هم په خندا ورته وویل:

وروره! ولاله ماڅخه یې هم دپیل ډاکټر جوړ کړی دی او هغه د سی چه یوه ورځ په کوم ملك کې یوه بېکاره مگر ښایسته هوښیار سړی دا فکر کړی و چه دا زمونږ په ملك کښې خو په سل گونو کسان بیځایه بیځایه او په یو ازې نومونو باندې تنخا گانې خوری. راشه ته هم پاچا نه ورشه او په یوچل باندې څه تنخا ځانته وتړه.

پاچا ته ورغی او ورته وې ویل چه زه د پیل ډاکتر یم مگر ستا په ملك کښی بېکاره بېکاره گرزم پاچا چه دده داخبره واور ېده سمدستی یې خپل وزیر وغوښت او ور څخه یې سلا وغوښته. پوه وزیر په ځواب کښی ورته وویل چه ښه دی! اوس خو مونږ پیلان نه لرو ده ته دې تنخا وتړله شی او تنخا دې خوری ترڅو چه پیلان پیدا کړو. پاچا ومنله او ښایسته ښه تنخا یې ورته وتړله.

سړی کرار ناست ؤ او خپله تنخا یې خوړ له ترڅو چه دده له بده شامیته د کوم بل ملك څخه پاچا ته چا یو پیل را وستاؤ څه موده نه وه تېره چه پیل ناروغه شو. پاچا او وزیر ته دپیل

(۱) البته داهم په هغه صورت کښی چه که یی د «ه» په نامه ومنو.

له ناروغۍ سره سمدستی د پیل ډاکټرور په یادسواو دربارته یې وغوښت. ډاکټر صاحب ورغی او د پیل په معاینه یې پیل وکړ. مګر څنګه معاینه؟ داسې چه څوڅو پلا د پیل نه یوخوا بل خوا وګرزېداورا وګرزېد خو په خو له یې هیڅ هم ونه ویل یوازی خپل سر یی د تأثر او حیرت په توګه وخوځاؤ.

پاچا پوښتنه ترې وکړه چه څنګه دې سر وخوځاو ناروغی خو به یې سخته نه وی؟

ډاکټر صاحب په ځواب کښی ورته وویل چه یه! ناروغی خو څه کوې چه امې ددې بلا سر او کو نه هم ونه پېژندلو.

ورونو! اوس نوزه هم دغسی شوی یم چه ولا که ددې نښی سراوپای پېژنم چه څه ده؟ آیا زور کی دی؟

هو! زور کی دی مګر په ځینو ځایونو کښې لکه په «زړۀ» نه په ټول لیک دود کښی. ځکه کله که په ټول لیک دود کښی دا نښه زور کی ګڼل شوې وای نو په «تل» کښی د «ت» په «ځبل» کښی د «ب» او په «سپك» کښې د «پ» د توری نه وروسته هم باید راغلی وای. ځکه دا او یا داسې نور ډېر ځایونه دی چه په پښتو کښی زور کی پکښی را ځی. بله دا چه که زور کی وی نو بیا په «ؤ» او «ئی» کښی څه کوی. آیا همزه دی؟

یه ځکه نه د پښتو کلما تو په مینځ کښې د عربی په څیر همزه څه درك لری او نه په پښتو کښې څوك پدې برخې کښې چه: «غوټۍ یې ښکل کړه.» د عربی د «الئك» په ېر داسې وایی چه: «غوټی ئی ښکل کړه.» ځکه په پښتو کښې «یې» په دوویا ګانو سره ویل کیږی. نه په همزه سره. البته دومره ده چه لومړی «ی» یې، چپ توری دی او دو همه «ی» یې غږیز توری.

نوله دې اصله زه وایم چه د پاړسو په تقلید د «ی» د پاسه همزه لیکل رټ غلط برېښی ځکه په پاړسو کښې خو دا بانه ورته جوړه شوه چه د «ی» سر دی. اما په پښتو کښی دا هم نه شی کیدای.

الف:

په زړو پښتو ګرامرونو او لیك دود کښې په «اغزی، ډار، اوژړا» درې واړو کلماتو کښې دا توری «۱» چه دیوې په سر دبلې په مینځ او دبلې په پای کښې راغلی الف بلل شوی دی. مګر په نوی لیك دود کښی دا کار څه مناسب نه برېښی ځکه هغه توری چه د «اغزی» د کلمې په سر کښې را ځی یوچپ توری دی(۱) نوله دې امله ښایی چه دچپو توریو په لړ کښې ځانته توری وی، او هغه توری چه دژړا د کلمې په پای او ډار د کلمی په مینځ کښې راځی غږیز توری دی. نو ښایی چه دغږیزو توریو په لړ کښې ځانته توری وی، نه الف، ځکه د «اغزیز» د کلمې دسر د توری او یا (ء) مخرج

(۱) پدې شرط چه که د ځینو لهجو په څېر د «سد» د مخرج څخه اداشی.

ځانته مخرج دی اود (ژړا) د کلمې دپای دتوری مخرج ځانته مخرج .

داوې هغه خبری چه ما دپښتو دغږیز وتوریو دڅرنګوالی او پخوانی وېش برخې کښې دیوې انتقادی څېړنې په توګه وکړی. دادی اوس زه پخپله د دغو توریو د څرنګوالی اصالت اووېش په برخې کښې په لاندې ډول غږ ېږم .

لومړی : «الف» : ـ

دا توری (۱) چه په پښتو کښې الف بلل شوی دی، او څرنګه چه دمخه هم وویل شو د کلماتو په سر مینځ او پای کښې راځی، پردوه ډوله دی

۱ـ هغه الف چه د(سد) دمخرج څخه ویل کیږی او د کلماتو په سر کښې راځی لکه په اغزی ، اندیوال او انګړ کښې .

دا (الف) یوچپ توری دی او په نو وګرامرونو اولیك دود کښې ښایی چه دچپو توریو په لړ کښې پخپله نښه سره وښودل شی.

۲ ـ هغه الف (؟) چه د کلماتو په مینځ او پای کښې راځی. لکه د داړې، وراره خندا اوژړا په کلماتو کښې. دلته دا توری (۱) یو ښکاره غږیز توری دی او په نوی لیك دودیا ګرامرونو کښې ښایی چه دغږیز و توریو په لړ کښې ځانته ځای ولری .

دوهم ، (ی) : -

دا توری چه په لیکل شوو پښتو ګرامرونو کښې په څلور ډوله (معروفه، مجهبو له ملینه او ثقیله) وېشل شوی او بیایې هرډول غږیز توری بلل شوې دی. زه دا ډول وېشم.

په لومړۍ سر کښې ښایی چه پردوه ډوله وی.

(۱)ـ چپه (ی) چه یې تلفظ دانګلیسی د(Y) د توری سره د (Yolk) په کلمه کښې چه معنایی دهګۍ ژېړوه او دپاړسو دی د توری سره د یك په کلمه کښې ، یو شی دی او د کلماتو په سر او مینځ کښې راځی، لکه یږه اومین . دپخوانیو نومونو سره سم یوازې هغه « ی » پدې لړ کښې راتلای شی چه د کلماتو په سر او مینځ کښې راځی او په پخوانی ویش کښې کوم ځانته نوم نه لری لکه دیږه او مین په کلماتو کښې .

تبصره :ـ کله که مونږ لږ څه ځیر شونو به وګورو چه د«ی» په پورته ډولونو کښې د ثقیله او ملینه «ی» په برخی کښې ځکه دا اشتباه چه غږیز توری بلل شوی ، پیدا شوې ده چه په دغه لیك دود کښې مرکب غږ دیوه توری په واسطه ښودل شوی دی مثلاً د« څوکۍ » د کلمی د«ك» او د «سړی ـ مفرد » د کلمی د (ړ) دتوری نه وروسته دوه دوه غږونه پراته دی مګر دلته په یوه توری سره ښودل شوی دی .

اما کله که داسی نه وای یعنی په لیك دود کښې مرکب غږونه په یوه توری سره نه وای ښودل شوی نو به دا اشتباه ښایی چه نه وی پیښه

(۱) پدې شرط چه که دځینی لهجو په څېر «سد» دمخرج څخه اداشی

مثلاً کله که مونږ اوس هم په فرضي دول سره زور په (A) زور کښې په E، او (یـه) په (Y) سره وښيو نو به په لاتين الفبا کښې دا (خو لی) او سړی کلمې داسې ولیکو.

خولـی (Khwaley) سړی «Saray» چه دلته بیا د مرکبو توریو په موجودیت کښې هیڅ شك هم نه پاتې کېږي.

ب ـ هغه (ی) چه له آره غزیز توری او په عمومي دول سره پر دوه دوله ده (۱).

۱ـ درنه «ی» لکه د تینګ او «سړی ـ جمع» په کلماتو کښې.

۲ـ نرمه «ی» لکه د «تېر» او «پستی» په کلماتو کښې.

دا غزیز توری دواړه د کلمو په منځ او پای کښې راځي او په لیکل شوو ګرامرونو کښې د معروفي او مجهولي «ی» په نامه پدې بڼو لیکل شوی دی معروفه: «ی». مجهوله «ي».

دریم: (و):ـ

دا توری په لیکل شوو پښتو ګرامرونو کې په دری دوله (معروف، مجهول او ملین) باندې وېشل شوی او بیا یې هر دول غزیز توری بلل شوی دی مګر زه څرنګه چه دمخه وویل شو داخبره نه منم او وایم چه د «و» ویش باید په لاندې دول سره وي:

۱ـ هغه (و) چه له آره یوچپ توری دی او د کلماتو په سر او منځ کښې راځي: لکه دوریځ غوږ په کلماتو کښې.

د «و» دپخوانی ویش او نومونو سره سم دا لومړی هغه «و» پدی لړ کښې راتلای شي:

چه په پخوانی وېش کښې کوم ځانته نوم نه لري لکه دوریځ او غوا په کلماتو کښې:

دوهم هغه «و» چه په ځینې ګرامرونو کښې پېښ ګڼل شوی دی اوویل شوی دی چه له آره پېښ دی مګر اوس د «و» په بڼه لیکل کېږي اما په ځینې ګرامرونو کښې هیڅ ګوته هم نه ده ورته نیول شوې له دی امله ده چه تراوسه پوری هم په ځینو کلماتو کښې ویل کېږي مګر لیکل کېږي نه. لکه د ګل په کلمه کښې چه په ویلو کښې د کونګ او ګونګ سره هیڅ توپیر هم نه لري.

زما په عقیده البته پدې عقیده دومره تینګ هم نه یم ولاړ، ځکه زما مطالعه هم په فلالوجي کښې شخصي مطالعه ده نه درسي دا «و» د انګلیسي د (W) او (V) د توریو ترمینځ یو ځانته توری دی چه نه یې دویلو په وخت کښې د (W) په اندازه خوله سره تو لیږي او نه یې (V) په اندازه.

---

(۱) زما داوېش دپخوانی لیك دود په اساس دی که نه وی هیڅ ضرورت نشته چه داهم «ی» وبلله شی او هغه هم.

شونډه دغاښونو سره نښلي .

تبصره :ـ

داچه په پخوانيو گرامرونو کښې د لو د کلمې اويا ددوی په اصطلاح ملين [و] مفرد غږيز توری بلل شوی دی يا داچه که د چاور فکر شوی وای د کټو او دمندو [وروسته دعواملو تراغيږي نه] د کلمی [و] به يې هم د ثيقلی [ی] په څېر د ثقيل (و) په نامه مفرد غږيز توری بللی وای علتونه يې دادی . .

۱ـ دعربيت اغيږه .

۲ـ داچه په پخوانی ليك دود کښې دوه غږونه په يوه توری سره ښودل شوی دی مثلا که لږ څه څېر شونو به دارا ته څرگنده شی چه د لو په کلمی کښې وروسته د [ل] د توری نه يو مرکب غږ پروت دی نه مفرد. دغه ډول د « کټو » او د کنډو « وروسته د عواملو تراغيږی نه » په کلماتو کښې وروسته د « ټ » او « ډ » له توريو نه دوه دوه غږونه پراته دی چه د پخوانی وېش له مخې کوم نوم لری.

اما کله که د پښتو پخوانی ليك دود نيمگری نه وای يعنی دوه غږونه د يوه توری په واسطه نه وای ښوول شوی نو هلته بيا ددی اشتباه امکان څه کم غوندی و .

مثلاً کله که سړی په فرضی ډول سره زور په « A » زور کی په [F] او ډك « و » په « W » سره وښيی هلته بيا ددی دوو توريو په اصالت او موجوديت کښې هيڅ شك نه پاتې کيږی .

مثلاً لو د اسی [Law] او کټو (KatEw) د اسی ليکل کيږی .

دوهمه تبصره :ـ

کله که مونږ په ليك دود کښې د چپوو اوو نو يا [WA] او نږدی [VA] د پاره ځانته توری او غږيز ووا وونو د پاره د نورو غږيزو تورو سره چه هريو يې ځانته غږ لری ځانته توری ولرو هلته بيا د « و » تعريف او وېش ته دملين او معروف په نامه چه مود مخه و لو ستلو څه حاجت نه پاتی کيږی

ځکه هلته بيا د لزوم په وخت کښې دواوونو وېش بل ډول کيږی لکه ډك سپك ، اوږد لنډ اويا داسی نور .

دريمه تبصره :ـ

دادی ديوې لارې د پرانستلو اويا د کار داسانولو د پاره زه چپ « و » په لاندی طريقه سره وېشم .

لومړی د سکون او حرکت له مخې .

د سکون او حرکت له مخې چپ « و » پر دوه ډوله دی

۱ـ وچ چپ « و » هغه « و » دی .

چه حرکت نه لری لکه دوريځ او ورك په کلماتو کښې.

۲ـ متحرك چپ « و » هغه « و » دی چه حرکت و لری او د کلماتو په سر او منځ کښې را ځی لکه په وير او غوا کښې .

دوهم وېش د ډکوالی او پوچوالی له مخې .

د ډکوالی او پوچوالی

له مخې هم چپ «و» پر دوه ډوله دی .

۱ـ ډك «و» هغه «و» دی چه دویلو په وخت کښې یې شونډې ښې سره ټولیږی او ډك ویل کیږی لکه د غوا او ور ور په کلماتو کښې

۲ـ پوچ «و» هغه «و» دی چه دی دویلو په وخت کښې یې شونډی ښې نه سره ټولیږی او لږ څه سپك ویل کیږی لکه د گول گل او گونگ په کلماتو کښې . دغه ډول غږیز «و» هم پر لاندی طریقه وېشلې شو .

غږیز «و» پر دوه ډوله دی [۱]

۱ـ اوږد «و» دا «و» هغه «و» دی چه یې دویلو په وخت کښې ښه اوږد غږیز جهاز څخه راوزی او په لیکل شوو پښتو گرامرونو کښې دوه نومونه لری . یو معروف «و» لکه د تالو او خوك او بل مجهول (و) لکه د تور او بزو په کلماتو کښې

۲ـ لنډ [و].

دا [و] هغه غږیز [و] دی چه یې دویلو په وخت کښې دغږیز جهاز څخه د اوږده [و] ترغږ نه لنډ غږ راوزی لکه په چپ ، پمدا نه ، بجړا لڅ لومړی او پنډۍ کښې .

دادی په پای کښې پښتو غږیز توری په لنډ ډول سره دا سې ښیم :

۱ـ غږیز الف لکه د ډار او غوا په کلماتو کښې .

۲ـ زور : لکه د سړی ـ مفرد او سپی ـ مفرد په کلماتو کښې .

۳ـ زور کی : لکه د زړه او تلل په کلماتو کښې .

٤ـ درنه اوږده [ی] یا معروفه «ی» یا اوږد زیر لکه د به سیر او سړی ـ جمع په کلماتو کښې .

٥ ـ سپکه اوږده [ی] یا مجهوله [ی] یا لنډ زیر لکه د ډېر او مستی په کلماتو کښې .

٦ـ لنډ [و] لکه د چپ او بجړا په کلماتو کښې .

۷ـ درونداوږد [و] یا معروف «و» لکه د تالو او شوم په کلماتو کښې .

۸ـ سپك اوږد [و] یا مجهول [و] لکه د تور او بزو په کلماتو کښې .

لومړۍ تبصره

دا وېش پخپل منځ کښې بیا ځانته وېش هم لری چه هغه ډېر دقیق وېش دی اوزه او س دلته ور څخه تېرېږېږم مثلاً : داچه درونداوږد [و] او سپك اوږد [و] او درنه اوږده [ی] او سپکه اوږده [ی] هم لنډ او اوږد غږ لری.

دوهمه تبصره :ـ

پښتو Vowels ډېر وختیځ پوهانو مستشرقینو هم شپږ او اوه یا تر دی نه هم کم ښودلی دې چه علت یې دژبې سره نابلدی او عدم آشنایې وه .

دریمه تبصره :ـ

داچه ما Vowels هم د «ی» او «و» او الف په نامه سره وښودل علت یې داو چه

(۱) دلته زه ځکه د «بزو» دریم توری ته هم «و» وایم چه تراوسه پوری بل توری نه لرو . مگر که مو لرلای او یا چاره وای نو به مې هیڅکله هم دغه توری د «و» په نامه نه وی یاد کړی ځکه «و» د «وه» د مخرج نماینده دی نه د «زو» د دریم توری .

مې په بل ډول نه‌شوو افاده کولای . که نه وی نوبه مې هیڅکله هم پدغو توریوسره نه وای ښوولی ځکه د «و» اود «ما کو» د کلمې دپای دویلو ترمنځ دومره توبیردی چه له ځمکی ترآسمانه .

داوو هغه څه چه مې دپښتو Vowels په برخی کښې وویل . دادی او سی به راشم هغو غزونو ته چه‌مرکب غزونه‌اویادفلالوژی په‌اصطلاح «دفتانگ» بلل کیږی او په پښتو گرامرونو کښې دمفردو غزونو په نامه یوه او بله‌خوا کش شوی وی . په پښتو کښې زما په عقیده لس دفتانگه دی او پدې ترتیب .

۱ـ «آی» لکه دځای ، پای اوتلای په کلمو کښې

۲ـ «آی» لکه دسړی ، سپی ، روزی په کلماتو کښې په مفرد ډول سره .

۳ـ «ای» لکه دخولی ، څپلی او څوکی یادی په کلماتو کښې.

٤ـ «آو» لکه دتاو ، ناو او کړاو په کلماتو کښې

٥ ـ «آو» لکه دلو ، کندو او مندو په کلماتو کښې .

٦ ـ «آو» لکه دکټو بگو او تټو یا کندو ، مندو اوپلو په کلماتو کښې وروسته‌د(د ، په ، له)داغیزی څخه . یعنی کله چه دکندو ، مندو او پلو دکلماتو دمخه (د ، له ، په) راشی هلته یې بیاد پای غږ دکټو اوبگو دپای‌دغږ په څیر «او» راځی نه آو .

۷ـ «اوی» لکه دخوی ، بوی ، دوی او داسی نورو کلماتو کښې .

۸ـ (اوی) لکه دزوی ، لوی اوسوی په کلماتو کښې

۹ـ «اوو» لکه‌پهولو و وزوو او وپوو کښې چه دا خود تراوسه دختیځ پوهانو په آثارو کښی هم نه دی راغلی.

۱۰ـ «اوو» لکه‌پهپووهااو داسی نورو ځایونو کښی چه داهم تراوسه پدغه لړ کښی چانه دی ښوولی.

نوټ :ـ

کله که موږ غږیز توری دژبی او شونډو دموقعیت له مخی و ګورو هلته بیا بایدچه د بجړا د ب دتوری د حرکت مناظر غږ هم موجود وی‌چه هغه د مجهول او معروفی «ی» ترمنځ یو غږدی لکه‌د«ځنی» او«انځر» په کلماتو کښی په‌ځینی لهجو کښی چه‌پدی ترتیب باید پښتو غږیز توری نه وبولونه اته .

نوټ :

۱ـ کلمه چه زه د (وه) او (یه) په نورو غزیدلی یم نومي دغه دوه توری چپ توری بللـی اوددی علت دادی چه دغزیزو توریو څخه یې جلا کړم یعنی داوښیم چه دغه دوه توری دغزیز توریو په لړ کښی نه راځی که نه وی نو دغو دو توریو ته دژب پوهنی په اصطلاح نیم غزیز توری وایی ، چه په بله ګڼه کښی به پری وغزیږم .

۲ـ کلمه چه د (الف) په برخه کښې غزیز یدلی یم . هلته مې یو دول (الف) هم چپ توری بللی مګر مغه خبره هم دیورته خبری په څیر یوه خبره ده مګر پدی شرط چه که پا کومه لهجه کښی دعربی دهمزه په توګه وویل شی که نه وی نو په پښتو کښی (الف) غزیز توری دی نه چپ توری .

دلسوزروتنو سره به‌ته دهغه‌ځای نه‌لږرا وړاندی‌ځای نیسی او بیا به دارا کوزیامشران په‌سوله ځانته‌راغواړی‌اوورته به‌وائی چه‌په کراره کښی یونانی‌پوځونو ته‌لارور کړیء چه‌دلته‌راشی.. دتندرد ډلی دمشری‌نیول به هم وربیانوی، او بیاهم که‌څه‌ونشو نو.... نو... خیر بیاهغه ساعت اوهغه مصلحت.. آرته باز یوس چه‌هرټکی دسکندرد خولی نه‌اوریده، نوغونی به‌ئی‌ورته زینږیده اوزړه به‌ئی ورته لړزیده اوچه خبره خلاصه شوه نود جرنیل دزړه ټوپونه اولغتی دلری نه‌ښه اوریدل کیده.، چه څه بده ورځ ئی شروع کړیده.

* * *

شپه په‌آرته بازیوس دومره سخته اودرنه تیره شوه چه حداواندازه ئی نه‌لګیده خوب ئی ستر ګوته بیخی ورنژدی نشو.، کله په یواړخ او کله‌په بل‌اړخ اووښت رااووښت او ساړه‌ساړه اوسیلې‌ئی ایستل تابه‌ویل چه ګنی ځوی لور ئې مړه شویدی اویاپه مرګ تړلی دجلادانتظار وباسی.

ماښام ئی‌چه ډوډی‌دسکندر سره وخوړه نود وخته ئی ترینه رخصت واخست اورا پاڅید.دغمه دروند، ځنګیدلی ځنګیدلی راروان شو، سرئی لکه دمرض‌وهلی چرګ په شان ځوړند نیولیؤ، پښی‌ئی په‌زوره زوره دځان پسی راښکو دی.

کیمپ ته‌چه راورسیدهلته لاپه دروازه نه‌ؤ راننوتی چه په مخ کنبی ورته یوتور لوړاو قوی و جودچه په سر او سینه ئی دفولادو زغری پرتی‌وی ودرید اولاس‌ئی ورته په‌اوزه کینبود . آرته بازیوس چه‌په خپل خیال‌او فکر کنبی‌ؤ، ناخاپه ئی توپ کړو اوچیغه ئی کړه.، توره‌ئی دملانه راوا یسته او گوزار ته ئی‌خان‌جوړ کړ. ناشناس چه‌تور کالی اچولی ؤاوپه توره تیاره کنبی‌ئی غټوغټو ستر گود مشالونو په‌شان رنا کوله، بی اختیاره په قهقهه وخندل اووئی ویل :

آرته بازیوس! داتوره دی سباپه اراکوزیا کنبی وکاره وه..، اوس‌دی‌زړه په‌دی‌ملك کنبی‌دومره دکاره لویدلی چه ..

آرته بازیوس چه‌دآواز خاوندپیژندلی‌ؤ نوخبره ئی ور له پریکړه اودیواوز داوسیلی سره سم‌ئی و ویل :

اوه .. کارانوس ..ته ئی ..؟

بیاورو ورمخ‌ـکنبی شو په دسمال ئی دتندی‌نه‌خولی پاکی کړی اودواړه په‌دروازه ورننوتل .

په‌هغه شپه کنبی د مقدونی دی دوه سردارا نو ډیره پوری مرکه‌و کړه.، خوهیڅوك دهغوی‌دخبرو نه‌خبر نه‌شول. معلومه‌نه‌شوه چه‌ددوی دواړوپه منځ کنبی څه‌تیرشول..، کارانوس‌دڅه دپاره راغلی وا و آرته بازیوس څه‌فیصله وکړه .، یو ازی کله چه

کارانوس رابهرشواوآرته بازیویوس ازی پاتی شونو که چائی بشری ته کتلی وی ښکاره معلومه وه چه په مخ ئی دغم گردونه پراته دی اودستر گوشاو خواته ئی توری کرښی پیدا شویدی . سکندر چه دآرته بازیوس اونورو دراوتو ورسته یوازی پاتی شونومخ ئی خپل مخصوص سپاهی اوناسیس ته کړ اووئی ویل :

اوناسیس..! ته ورشه او زما طبیب فیلوس راوله ...

او ناسیس لاس جگ کړ اوپس له سلام نه بهر شو.، مقدونی بیایوازی شو، دچراغ شوغله اورنهاورو ورو کمید له .، خوب هم لږ لږ دهغه سترغلی پړسولی واو بانه ئی درانده درانده کیدل، ځان سره به ئی کله کله یوه نیمه خبره کوله خو آواز ئی نه اوریدل کیده ویل ئی :

اوس به زه دفیلوس نه دپوره طلب پوښتنه وکړم، هغه به ما پوه کړی چه داارا کوزی به څنگه شی.، کله به روغه رمټه شی چه کارتری واخستی شم ... نه نه .، همدااوس که څه وشی او هغه ...

آه که چیرته روغه نشی نو بیابه ... بیابه ... نه نه باید چه روغه شی.، هوزه او زما ژوند ، افتخار، دیونان امپراطوری ټول ددی جینی په روغوالی اوجوړیدو پوره کیږی، بایده دی چه هغه روغه شی...روغه شی زه دفیلوس نه دهغه...دهغه..دسکندر

درونه په خو تمکیدو راغلی وه ..، زړه ئی د ډیر هیجان نه د ساعت په‌شان بی‌واره تکاری کاوه اوحلق ئی وچ وچ کیده، په‌دی‌وخت کښی اوناسیس‌اوفیلوس دواړه رانتوتل اودمقدونی یه‌حضور کښی ودریدل.

دمقدونی فاتح ستر گی‌دخپل حدا واندازی نه‌زیاتی پراخه شوی وی، طلائی وینښتان ئی تارتار او گډوډ په‌تندی پراته و، او چه فیلوس ئی‌پخپل حضور کښی ولیدنوسم دواړه‌دخایه را پاخیدل اوطبیب ته‌ئی وویل:

فیلوس!.. هغه اراکوزی‌ناجوړه‌پیغله.، هغه‌دتندرددلی‌مشره ځنگه‌شوه. فیلوس‌چه‌په حیرت‌دفاتح حرکاتو او خیری ته کتل نوپه ډیره کراری ئی‌جواب ورکړ:

اعلیحضرتا ..! لکه چه‌څه وخت‌مخ کښی تاسوولیده دهغی نه څه بهتر ه شوی ده فاتح ددی‌خبری‌داوریدونه په‌خوشحالی وویل:

فیلوس! که‌داجنی ښه‌نشی..، یعنی همدا اوس ښه‌نشی‌نو.، ستا کو پری به زه دخاورونه ډکه کړم.، که‌همدانن شپه.، ترسباپوری.، یعنی ترهغه وخته‌پوری چه‌څوآرته بـ زیـوس د آراکوزیادنیا دپاره ځی. یعنی ترهغه‌وخته‌پوری چه‌لس زره تنه دتندرددلی‌دماتولو، بربادولو، تارپه‌تارکولو اووژلودپاره

حرکت کوی، روغه نشی، په خپلو پښو زما د پوځونو سره یو ځای لاړه نشی نو.. نو.. طبیب د فاتح خبره پریکړه.، سرئی مځکی ته ټیټ کړ او په احترام ئی جواب ورکړ.

اعلیحضرتا..! د خدای په دربا کښی زه همدا امید لرم چه سبا ته هغه پیغله د آرته بازیوس د لښکرو په قطار کښی اراکوزیا ته روانه شی.

په دی وخت کښی او ناسیس چه بیرته بهرته وتلی ؤ.، ناڅاپه را ننوت او په ډیره وار خطائی د سلام نه پس فاتح ته و ویل:

اعلیحضرتا.! د فرساګ نه یو قاصد د «میناس» سر راوړی دی.. د دی خبر په اوریدو د مقدونی سکندر ساه بنده شوه.، غونی ئی زیږشو.، بدن ئی د ویری او غم نه ولړزیده.، په تندی ئی د خولو لښتی رامات شول او سترګو ئی د مرګ پر دی راواړولی.،

بیا بی اختیاره د ځای نه وخوځید.، د دروازی خوا ته روان شو.، برابر لاړ او د فرساګ (۱) د قاصد په مخ کښی ودرید

قاصد چه د میناس سر په کپړه کښی تاو کړی څنګ کښی نیولی ؤ نو هغه ئی فاتح ته مخ کښی کړ او و ئی ویل:

اعلیحضرتا.! میناس خپل ژوند د فاتح په خدمت کښی

---

(۱) د هغه وخت دارماکوزیا ښار نوم دی چه بطیلموس ئی په تاریخ کښی ذکر کوی.

خاوری کړ ، د هغه آخری وصیت دا ؤ چه سرئی د فاتح
په حضور کښی پیش شی ...

مقدونی چپ و ، دلیونی او بی خوده په شان ئی ستر گی
رپولې ، بنه ئی الوتی وه ، خولی ئی هماغه شان په تندی
راروانی وی او ځاځکی خاځکی ئی په مخ را ځخیدلی ....

قاصد یو زلی بیا خوله جوړه کړه اووئی ویل :

میناس وصیت کړی ؤ د اعلیحضرت په حضور کښی عرض
کړم چه نور په دی ملک کښی د پښتنو سره بده لاره چاره
ونه ساتی ، ځکه ماته د یو خصوصی جاسوس په حیث ثابته
شوه چه د پښتنو په ملک قبضه اودهغوی غلامول ، محض یو تش
خیال او تصوردی .: دلمروړانگو پسی توپونه اومنډی وهل
دی ، د شگونه د کوروګنو جوړول دی ، په بار ان کښی
داومړی تار ریشل دی .

پښتانه په دنیا کښی د یو اصل ډیر سخت پابند دی او هغه
د وطن او خاوری عشق او مینه ده نو اعلیحضرتا ....

سکندرطاقت ونگړ، چیغه ئی کړه او دمارخوړلی پشان
تاوراتاوشو ، لاس ئی په ستر گو کیښود او په جگ آوازئی
امر وکړ :

اوناسیس ! ، آرته بازیوس ، همدا اوس دلته راوله ، هغه

اراکوزی پیغله هم را روانه کړه او ..

د قهراو غصب نه ئی حلق وچ شو، ژبه ئی ونښته، د میناس (خپل شخصی - جاسوس) سر ئی چه د قاصد په لاس کښی واخیست، را برسیره ئی کړ، دسمال ئی ور نه لری کړ او بیا ..، هغې بی تنی ککری سره، د میناس دسرسره په خبرو شو ...، لکه لیونی چه دونو بوتو او کانو سره خبرې کوی ویل ئی :

میناس .! ته سهوه کوی .، غلطه وای ..، زه په هر قسم چه وی دا خلك .، دا قوم .، دا پښتانه او دا خاوره، یعنی چه دادوی په کښی اوسیږی، شپی ورځی په کښی تیروی، و اړه زاړه ئی پکښی خاندی خوشالیږی، مغلوبوم اونسیم.، د خپلی امپراطوری یعنې دیونان د پادشاهی پوری ئی ترم ..

میناس ! تاته به د « گرانیکس » (۱) پیښه دریاده وی، او هلته به دی لیدلی وی چه، دفیلیپ ځوی حتی د مرگ نه، نه ویریږی .، نه میناس ! تا سهوه کړی ..، د یره غټه سهوه او زه ...

په دی وخت کښی اوناسیس، سراسیمه او وار خطا

---

(۱) دننی ترکی په شمال کښی یو سیند و، دلته سکندر ددا ریوش دلښکرو سره دو مره سخت او خونړی جنگ وکړو چه نژدی پکښی خپله مړ ؤ.

د آرته بازیوس سره را ننووت.، سلامی مقدونی ته ودرید او په احترام ئی سر ځوړند وینو.

فاتح چه د فرساګ د قاصد په مخکښی دمیناس د ککری سره خبری کولی چپ شو مخ ئې خپل جرینل آرته بازیوس ته راواړاوه او بیا هماغه شان ورو ورو هغه ته وز نژدی شو، څنګ ته ئی ودرید، ککری ئی ورته ونیوه او په ویروونکی آواز ئی وویل:

میناس مړشو .... ووژل شو.، اوزه ګورم چه په دی ملك کښی دلته چه دا قوم اوسیږی دمیناس په وژلو لږلږ دمقدونی تاج وتخت په لړزیدو راولی .. او دا خطر دا ویره لمړی د فرساګ نه، بیا د «کروناد» (۱) او ور پسی د (دیمتریاس) (۲) نه را پیدا شویده ....

سکندر چه آواز ئی لږلږ دروند شوی ؤ وویل:

دا میناس دی.، دا ککری هغه لوی او هوښیار جاسوس دی چه ما یوازی د هغه په وجود دارا کوزیا فتح او نیول په زړه منلی ؤ او .....

---

(۱) دارا کوزیا ښار ؤ.

(۲) د هغه لخای د یو بل ښار نوم ؤ.